د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او
درسي کتابونو د تالیف ریاست

# پښتو

## اووم ټولګی

## (د دري ژبو لپاره)




د چاپ کال: ۱۳۸۸ هـ . لمریز

د پوهنې وزارت
د تعلیمي نصاب د پراختیا او
درسي کتابونو د تألیف ریاست

# پښتو

# اووم ټولګی

# (د دري ژبو له پاره)

درسي کتابونه په پوهنې وزارت پورې اړه لري. په بازار کې یې اخیستنه او خرڅونه په کلکه منع ده.له سر غړوونکو سره قانوني چلند کیږي.

د چاپ کال: ۱۳۸۸ هـ . لمریز.

# د بیا کتنې کمېټه

## د ژبې او محتوا کمېټه:

ـ سید احمد مومند د پوهنې وزارت سلاکار.

ـ د مؤلف مرستیال محمد عزیز تحریک د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی او د پښتو دیپارتمنټ آمر.

ـ شکیلا دوست د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړې.

ـ محمد عزیز حسین خېل د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پـــښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی.

ـ د مؤلف مرستیاله فروزان خاموش د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړې.

## د دیني، سیاسي او فرهنګي کمېټه:

ـ ډاکتر محمد یوسف نیازی د پوهنې وزارت سلاکار.

ـ محمد آصف ننګ د پوهنې وزارت د خپرونو او اطلاعاتو رئیس.

ـ د مؤلف مرستیال محمد سهراب دیدار د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د پښتو دیپارتمنټ علمي او مسلکي غړی.

# د څارنې کمېټه:

ـ دکتور عبدالغفور غزنوي د پوهنې وزارت د تعلیمي نصاب د پراختیا، د ساینس مرکز او د خپرونو مرستیال. دکمېټې رئیس

ـ محمد صدیق پتمن د پوهنې وزارت تدریسي مرستیال. غړی.

ـ د سرمؤلف مرستیال عبدالظاهر ګلستاني د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف رئیس. غړی.

## کمپوز او ډیزاین:

ـ صفت الله مومند د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتابونو د تألیف ریاست د کمپیوټر دیپارتمنټ غړی.

بسم الله الرحمن الرحيم

# پیغام

د لوی خدای (ج) شکر ادا کوو چې زموږ د مجاهد ملت دکلکې ارادې، بیدریغه قربانیو، د ملګرو ملتونو او د نړۍ د بشردوستو هېوادونو د نیکو هلوځلو په پایله کې په هېواد کې سراسري سوله او مشروع سیاسي نظام ټینګ شو او له جګړې څخه را پیدا شوی ځوکلن کړاو یې پای ته ورساوه. د افغانستان اسلامي جمهوریت او په سرکې یې جلالتمآب حامدکرزی د واکمن وګړنیز نظام لـه پېل څخه ملي سترو مـــوخو ته د رسېدو په هیله د هېواد د بیارغاونې او پراختیا په ټولو برخوکې د نـوو پروګرامونو تګلاره پېل کړې ده. د ښوونې او روزنـې پـه برخـه کـې او د معـارف د نـوي کیـدو او غوړیدو په لاره کې هڅې، د ملي یووالي، متمدنو، رښـتینو او د پیـاوړو مـسلمانانو پـه توګـه د نـوی ځوان نسل د روزنې په برخه کې د دغه جلالتمآب زیات ملاتړ او زړه سـواندې لارښـوونې چـې تـر تطبیق لاندې دي د ډېرې درناوي وړ دي.

دپوهنې وزارت دهغو لارښوونو او نوښتونو له جملې څخه چې دافغانستان دپوهنې د بیارغاونې په لاره کې یې ترلاس لاندې لري، د تعلیمي نصاب د پراختیا او درسي کتـابونو د تـالیف ریاسـت تـه دنـده ورکړې ده چې له یوې خوا د ښوونځیو د لوست دکتابونو دکمښت او نشتوالي ستونزه لرې کړي او له بل پلوه د افغانستان د اسلامي جمهوري دولت د علمي او فرهنګي پالیسۍ اوموخـو پـه رڼـا کـې د داسې واحد تعلیمي نصاب په ترتیبولو بوخت شي چې د هېواد اوسنیو او راتلونکو اړتیاوو ته ځـواب ووایي. زموږ نوی تعلیمي نصاب چې د افغانې ټولنې له غوښتنو او نړیوالو معیارونو سره عیـار شـوی، موخه یې د هېواد د بچیانو اسلامي اوعلمي روزنه اوزده کړه ده چې په نتیجه کې یې دپـوهنې د زده کوونکو، ماشومانو، تنکیوځوانانو او ځوانانو په ذهن کې سالم تفکر پیاوړی او هغوی د نوې پوهې له ارزښتونو سره آشنا کوي. زموږ د هېواد ځوانان باید متدین مسلمانان، هیوادپال، بشرپال او د پوهې او کمال پر ګاڼه سمبال انسانان وروزل شي ترڅو د علومو د پرمختیا او معاصر تمدن له پرمختـګ سـره اشنایي ترلاسه کړي او په ټینګ هوډ سره له هغو نوو او مثبتو بدلونونو څخه چې رامنځته شـوي دي ګټه واخلي. دنوي افغانستان او د یوې سوکاله ټولنې د جوړونې په موخه د سـاینس او تکنـالوژۍ لـه بدلونونو سربېره باید د انساني علومو له بنسټونو، د بشري حقونـو د سـاتنې، سـولې، هېوادپـالنې، ملـي یوالي، د استوګنې د سالم چاپیریال د ساتنې اوسوله ییز ګډ ژوند څخه خبر وي. د جهل له تورتم او د مخدره توکو له تولید او قاچاق سره مبارزه د خپلوزده کړوپه سرکې په پام کې ونیسي.

موږ له رښتینو، زړه سواندو اوتجربه لرونکو ښوونکو څخه چې د نوي تعلیمي نصاب په تطبیق کې د هېواد د بچیانو د زده کړې او روزنې سترمسؤلیت پر غاړه لري او دغه راز د هېواد د پوهنې د برخـې له نورو علمي، فرهنګي شخصیتونو او پوهانو څخه هیله لرو چې د خپلو رغنده نظرونو او وړاندیزونو په وړاندې کولو سره زموږ له لیکوالو سره د درسي کتابونو په لیکلـو او پیـاوړي کولـو کـې مرسـتې وکړي. په همدې ډول له تمویلوونکـو هېوادونـو او درنـو سـازمانونو (د امریکـا د متحـده ایـالتونو د نړیوالې پراختیا اداره، دانیدا، یونیسف، نړیوال بانـک اویونیـسکو)څخـه چـې دکتـابونو پـه تـالیف او چاپولوکې یې د پوهنې له وزارت سره مادي اوتخنیکي مرسته کړې ده مننه کوو. له ټولو ګرانو زده کوونکو، درنو ښوونکو او محترمو میندو پلرونو څخه هیله کوو چې د درسي کتابونو پـه ښـه سـاتنه کې خپله مرسته ونه سپموي.

**فاروق وردک**

دافغانستان داسلامي جمهوریت دپوهنې وزیر

# لــړلــيک

| سـرليک | مـخ |
| --- | --- |
| حمد | ۱ |
| نعت | ۲ |
| ټوکه | ۴ |
| د زغم او حوصلې ښېګڼې | ۵ |
| هېواد | ۷ |
| نېک او بد | ۹ |
| د پاکو اوبو څاه | ۱۰ |
| کيسه | ۱۳ |
| نوی کال | ۱۵ |
| باخبر امير | ۱۷ |
| ملي يووالی | ۲۰ |
| له تناکوډک لاسونه | ۲۳ |
| د شاتو مچۍ | ۲۵ |
| کعبه شريفه | ۲۹ |
| علم | ۳۱ |
| سخاوت | ۳۳ |
| بشر دوستي | ۳۵ |
| څرنګه کور؟ | ۳۷ |
| ملامشک عالم | ۳۹ |
| په اسلام کې تمدن | ۴۰ |
| د سرو زرو خزانه | ۴۲ |
| هيرويين ژوند پای ته رسوي | ۴۵ |
| کار او زيار | ۴۷ |
| خپله ژبه هم کلا ده هم بلا | ۴۸ |
| مکتب | ۵۰ |

| سرليک | مخ |
|---|---|


| | |
|---|---|
| عالمان | ۵۲ |
| دموکراسي | ۵۴ |
| د ضرورت ليک | ۵۶ |
| د ناروغۍ ليک | ۵۷ |
| د حضرت محمد ﷺ ويناوې | ۵۸ |
| ابن سينا | ۵۹ |
| کيسه | ٦١ |
| لنډۍ | ٦٢ |
| کور، د ژوند لومړی چاپېريال | ٦٣ |
| ښه ټوکران | ٦٦ |
| پلارته ليک | ٦٨ |
| کيسه (۱) | ٦۹ |
| د غوږ عمومي ناروغي | ٧٦ |
| ټوکه | ٧۹ |
| متلونه | ٧۹ |
| سرېتوب | ٨٠ |
| د مور خدمت | ٨١ |
| بې پروايي | ٨٣ |
| پاک خواړه | ٨۵ |
| ښه زده کوونکی | ٨٨ |
| متلونه | ۹٠ |
| زمرک او غرۍ | ۹١ |
| خپل زوی ته د لقمان حکيم نصيحتونه | ۹۴ |
| ښوونکی | ۹۵ |

# حـمـد

ګوره هســــــــې کردګار دی رب زمـا

چې صاحب د کل اختيار دی رب زما

همګي بزرګواران چې څوک يې وايي

د همــــــه و بزرګــــوار دی رب زما

څه مـــانۍ چې د دنيا او د عقبا دي

د همـــــه واړو معمـــــار دی رب زمـا

شريک نه لري په خپله پادشاهۍ کې

بې شـــريکه شهر يـــــار دی رب زما

هېڅ تغير او تبديل نه لــري رحمــانه

تل تـرتلــه بـــر قــرار دی رب زمـــــا

(رحمان بابا)

---

پوښتنې:

۱. پورته درس ولې د کتاب په لومړي مخ کې راغلی دی؟
۲. د دغه شعر مطلب په نثر وليکئ.
۳. په پورته حمد کې پښتو کلمې بېلې او د دري ژبې کلمې بېلې کړئ.

# نعت شریف

پاک رسول یو اولو العزمه پېغمبر دی
د اسلام د پتنګانو لوی رهبر دی
تر معراج پورې جبریل ورسره مل و
په نبیانوکې سرلوړی، مُعتبر دی
آخري شوپه تاریخ دنبوت کې
په ډګرکې د حشر بیا سرلښکر دی
شو مبعوث په رسالت د منزلت ستر
دنړۍ په انسانانوکې بهتر دی
د اسلام په ژوندنامه کې مې لوستلي
محمد، مصطفی، احمد، سرور دی
ظاهري معنا یې زده د هر عالِم ده
د قرآن په باطني معنا خبر دی
دلهب او ابو جهل مخالف و
د انصارو، مهاجرو، دوست، دلبر دی
مؤمنانوته هر ځای د سترګو تور دی
چې یې نه مني جاهل، ړوند، مکدر دی
هاشمي دی، قریشي، د عبدالله زوی
زیږولی امنې، خیرالبشر دی

کوچنیـــــوالي کـــــې کـــــشیش و پېژنـــــدلی
وربېـــخ پرســـریې تلـــه، مـــانع یـــې د ســـفر دی

شـــفاعت بـــه د اُمـــت کـــړي کتـــاب وایـــي
د تحریـــک پـــه انـــد د هـــر مُـــسلمان ســـپر دی

(محمد عزیز تحریک)

---

پوښتنې:

۱. تېرکال ستاسې د بریالیتوب سبب څه و ؟
۲. د ننـني لوست عنوان څه دی او څوک یې راته وایي؟
۳. له پورتني لوست څخه مو څه نتیجه واخسته ؟

د انشاء تمرین:

■ د پورتني شعر مطلب په څو کرښو کې ولیکئ.

# ټوکــــه

یو چا د بل چا شکایت کاوه، چې دی ډېر حریص دی. داسې ختم نشته چې دی په کې نه وي. په هر خیرات کې یې وینم. هغه سړي ورته وویل:" ته تر ده ډېر حریص یې." هغه وویل: "څنګه؟"

ځواب یې ورکړ: "خو ته هم هلته یې چې دی وینې!"

**لغتونه:** **معناګانې:**

حریص ورږی

---

**پوښتنې:**

۱. له پورتنۍ ټوکې څخه مو څه نتیجه واخیسته؟
۲. که چېرې مو کومه بله ادبي ټوکه زده وي په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.
۳. زده کوونکي دې په خپل وار یوه، یوه ټوکه ووایي.

# د زغم او حوصلې ښيګڼې

د اسلام د ستر پيغمبر حضرت محمد مصطفی ﷺ په باب ډېر روايات شته دي. د بشريت ستر لارښود په ژوند کې د خورا عالي اخلاقو او د پوره صبر او زغم خاوند و.

لوی خدای ﷻ حضرت محمد ﷺ ته د زغم او حوصلې پراخ زړه ورکړی و. د هر راز ستونزو په حل کولو کې يې له ډېرې مېرانې او عدالت څخه کار اخيسته. د هر راز اعمالو په مقابل کې به يې له پوره صبر او حوصلې څخه کار اخيست. دا دی يو مثال يې دلته وړاندې کېږي. د هر انسان دا شرعي دنده ده، چې دغه ښيګڼې په خپل ژوند کې ځانته سر مشق وګرځوي او د هغه پر اساس عمل وکړي.

وايي چې حضرت محمد ﷺ به چې کله جومات ته تلو، نو يوې يهودۍ ښځې به هره ورځ خځلې له بامه پرې راغورځولې او پيغمبر مبارک يې ځورا و ه. خو حضرت رسول اکرم ﷺ دا اذيت او آزار په سړه سينه زغمه او حوصله به يې کوله. دا کار ډېرې ورځې تکرار شو، خو ناڅاپه دوې ورځې دا کار ونشو. په دويمه ورځ پيغمبر ﷺ په جومات کې پوښتنه وکړه چې هره ورځ يهودۍ ښځې پرده خځلې راغورځولې. مګر دا دوې ورځې دا کار نه دی شوی. کله چې نبي عليه السلام د علت پوښتنه وکړه، يو تن ځواب ورکړ چې هغه ښځه ناروغه ده. حضرت محمد ﷺ د لمانځه له ادا کولو څخه وروسته

د یهودۍ ښځې کورته ورغی او د هغې د احوال او روغتیا پوښتنه یې وکړه.

دا خبره یهودۍ ښځې ته دمنلو وړ نه وه. یهودۍ ښځې د پیغمبر ﷺ په صبر او حوصلې آفرین ووایه او په هغه ورځ یې په مبارک ایمان راوړ او مسلمانه شوه.

له دې مثالونو ښایي دا خبره تاسو ته څرګنده شوې وي چې د حوصلې او صبر مراتب په اسلام او قرآن کریم کې د خدای ﷻ او د پیغمبر ﷺ په وړاندې څومره قدر او منزلت لري.

---

پوښتنې:

١. ولې حضرت رسول اکرم ﷺ د یهودۍ ښځې په وړاندې له صبراو حوصلې نه کار واخیست؟ د یهودۍ ښځې د بد عمل په مقابل کې د حضرت محمد ﷺ زغم او صبر پر هغې څه مثبت اثرات درلودل؟
٢. ښوونکی دې د صبر او زغم ښیګڼې زده کوونکو ته وړاندې کړي.
٣. زغم ولې په یوې ټولنې کې د زیات ارزښت وړ دی؟



# هېواد

زموږ ګران هېواد افغانستان دی. موږ له خپل هېواد او ټاټوبي سره ډېره مینه لرو. خپل هېواد او خلک را باندې ګران دي. د افغانستان خلک د خوشحالۍ په لور روان دي. له ډېرو اوږدو کړاوونو څخه وروسته د تورو شپو له تورو وربځو څخه د یو ځلانده لمر او روښانه ورځې په لور مزل کوي. د یو علمي او پوهنیز دور په لور روان دي.

خلکو ته به کار پیدا شي، د دوی لوږې، کړاوونه او بې کورۍ به له منځه ولاړې شي. دا ځکه چې حکومت یا حکومتي مشران د خلکو خدمت کوي او خلک بیا د یوې ادارې او حکومت په خدمت کې دي. واکمنه ټولنه او خلک سره بېل یا لرې نه دي. یوازې کارونه یې سره بېل دي.

ددې هېواد خلک ټول سره ورونه او خویندې دي، د یو موټي په څېر دي دغه ټول افغانان سره یو تن او یو بدن دي.

دا چې هېواد د نېکمرغۍ په لور روان دی. موږ ډاډه يو چې په ډېر لږ وخت کې به له ټولو بدمرغيو څخه خلاص شو او ټول هېوادوال به مو د ښه ژوندانه خاوندان شي.

**لغتونه:** **معناګانې:**

| | |
|---|---|
| ټاټوبی | هېواد يا کور |
| ځلانده | روښانه |

---

**پوښتنې:**

۱- هېواد په موږ د څه شي حق لري؟

۲- زموږ د بدن وينه د افغانستان له څه شي څخه جوړه شوې ده؟

۳- له پورته لوست څخه مو څه زده کړل؟ څوک په دې اړه غږېدای شي؟

۴- موږ د وطن د آبادۍ لپاره څه بايد وکړو؟

## د انشاء تمرين:

- د هېواد په هکله يوه لنډه مقاله وليکئ.

# نېک او بد

که امیـــد لـــرې لـــه رحـم لـــه کرمـــه
ســـتا هم بویه په هر چـــا بانـــدې کــــرم

له هر چا سره چې کړې هغـــه بـــه مـــــومې
د هېڅ تخـــم مېـــوه نـــه درومي برهـــــم

او س ده ستا رضا نیکي کړې که بدي کـړې
نېک او بد دې دواړه کښـــل شـــي پـــه قلم

(رحمان بابا)

---

لغتونه: معناګانې:

کرم ښښنه، ښه ځواني

برهم عبث او بې ګټې

پوښتنې:

۱- ګرانو زده کوونکو! پورته شعر د څه په هکله ویل شوی دی؟

۲- د نېکۍ او بدۍ په اړه څوک خبرې کولی شي؟

د انشاء تمرین:

- د نېکۍ د ښېګڼو په اړه یو څو کرښې ولیکئ.
- پورته شعر په نثر واړوئ.

# د پاکو اوبو څا

د څا په کيندلو کې اوبه راوځي. هغه اوبه چې لـه څا څخه راوځـي د څښلـو، پخلـي، د کـاليو او ځـانونو د پـرې مينځلـو او پـه کـور کـې د ونو، ګلانو او د سبو د کرلو لپاره کار ور څخه اخلو. د څـا اوبـه سـړې وي. د دې لپـاره چـې د څـا اوبـه پـاکې وي، پـه څـا کـې بايـد کلـه کلـه مالګه يا کلور واچول شي، ترڅو مېکروبونـه يـې ورک شـي. د څـا خولـه بايـد پټـه وسـاتل شـي او شـاوخوايـې پـه مناسبه توګـه لـه سـمنټو يـا سمنټي ډبرو څخه جوړه شي.

څا که په لاس يا برمې کيندل شوې وي، دېوالونه يې بايد سمنټ او يـا چکونـه پـه کـې ځـای پـر ځـای شـي. د چـک پـه کـارونې د څـا د پايښت وخت زياتېږي، يعنې د څا اړخونو نه را لـويږي. کـه چېـرې څـاګـانې چکونـه ونـه لـري نـه يـوازې دا چـې د هغـو اوبـه خـړې وي، بلکې په ختو بند ېږي او اوبه يې وچېږي.

اوس د اوبو د کمښت له امله زمونږ د ګران هېـواد پـه ځينو سيمو او کورونو کې د څښلو اوبه لـه ژورو برمـه شـوو څاګـانو او لاسـي بمبـو څخه لاس ته راځي.

دغـه لانـدې څـو ټکـي د اوبـو د زېرمـو د خونـدي سـاتلو او لـه ميکروبونو څخه د خلاصولو لپاره مونږ سره مرسته کولی شي.

۱. د ځا ترځنګ باید ځان او کالي ونه مینځو. ځاروي د ځا څنګ ته نږدې اوبه نه کړو او کورني الوتونکي له ځا څخه لرې وساتو. همدا راز ځا ته څېرمه د ځارويو او نورو شيانو له پرېمنځلو څخه ډډه وکړو، ځکه له دې امله ناپاکې اوبه ځا ته ننوځي.

۲. تشناب (بيت الخلا) باید ځا ته نږدې جوړه نه شي او لږ تر لږه له ځا څخه شل متره لېرې وي.

۳. هېڅکله ماشومان د ځا خواته نږدې پرې نه ښودل شي چې چټلي وکړي. که چېرې اوبه نا پاکې شي په حقيقت کې مو خپل بدن ته د ناروغيو لاره خلاصه کړه. نو د هېواد ټولو اوسېدونکو ته لازمه ده چې د خپل هېواد د اوبو زېرمې له خطر او ميکروبونو څخه وساتي.

---

| لغتونه: | معناګانې: |
| --- | --- |
| مرسته | کومک |
| سړې | يخې |
| زېرمې | ذخيرې |

## پوښتنې:

۱. څا ولې کنو؟
۲. د څا اوبه څه کوو؟
۳. د څا اوبه څه ګټې لري؟
۴. څا باید له نا پاکۍ څخه څه ډول وساتل شي؟
۵. د څا اوبه څنګه پاکې کړو؟

## د انشاء تمرین:

- د پاکو اوبو د څا په هکله یوه مقاله ولیکئ.
- ګرانو زده کوونکو! د لوستل شوي متن اساسي مفهوم څه شی دی ؟

ویې وایئ!

# کیسه

په پخوا وختونو کې یوه زاړه سړي د ځنکدن په وخت کې څو لښتې راواخیستې، یو ځای یې سره وتړلې. زامنو ته یې د هغو د ماتولو اشاره وکړه. له زامنو څخه یې هر یوه د لښتو ګېډۍ واخیسته او زور یې پرې وکړ چې ماته یې کړي. خو هر څومره زورونه یې چې ووهل د لښتو ګېډۍ یې ماته نه کړای شوه. خپله کمزوري یې ومنله.

بیا هغه تجربه کار زاړه سړي د لښتو ګېډۍ را واخیسته، لښتې یې، یوه یوه ماته کړه او خپلو زامنو ته یې مخ ور واړاوه، د نصیحت په ډول یې ورته وویل: "ګرانو زامنو! که رښتیا ووایم، نو ستاسې حال به هم داسې وي. که تاسې په خپل منځ کې مینه، دوستي، اتفاق، یووالی او وروروليولرئ، نو هېڅوک به پر تاسو دپاسه نه وي او که په خپل منځ کې په دښمنۍ او بې اتفاقۍ اخته وئ، نو یو کمزوری به هم پر تاسو غالب وي. له بې اتفاقۍ څخه به مو بده ګټه اخلي، یو یو به مو ماتوي.

پوښتنه:

۱- د پورته لوست مطلب د څه شي په باره کې دی؟

## د انشاء تمرین:

- د اتفاق او یووالي په هکله یوه لنډه مقاله ولیکئ.

## سپارښت:

- ښاغلی ښوونکی دې زده کوونکي د پورتنۍ کیسې په مطلب پوه کړي او له زده کوونکو څخه دې وغواړي چې نوموړې کیسه په خپله ژبه بیان کړي او بیا دې د کیسې د ګټې په اړه خبرې وکړي.

# نوی کال

یو کال څلور فصله دی. لومړي فصل ته يې پسرلی وايي. د پسرلي لومړۍ ورځې ته د کال نوی ورځ ویل کېږي.

دغه فصل انسانانو ته د ژوند نوې هیلې وربښي. دښتې، غرونه او رغونه د ارغوان او غاټول په ګلونو ښکلې کېږي. په دښتو، غرونو او رغونو کې رنګا رنګ ګلان پیدا کېږي. دغاټول او ریدي ګلانو، شنو بوټو د غرونو لمنې او دښتې سمسورې کړې وي. چینې او رودونه هرې خواته بهېږي.

ټول خلک په خپلو کښتونو او باغونو کې په کار بوخت وي. شپانه او غوبانه خپل څاروي او مالونه د غرو لمنو ته بیايي. که هرې خواته وکتل شي، شنه کښتونه او ښکلا لیدل کېږي، چې د انسان روح ورسره تازه کېږي. نو راځئ چې موږ هم کار وکړو، زیار وباسو ترڅو خپل هېواد آباد او ودان کړو. د نوي کال د نوو ارمانونو د تر سره کولو لپاره هڅه وکړو او په خپل هېواد کې د علم او پوهې پسرلی راولو.

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| فصل | موسم |
| سمسور | تازه |
| هيلې | اميدونه |

## پوښتنې:

۱- يو کال څو فصله دی؟

۲- د هر فصل د مياشتو نومونه واخلئ!

## سپارښت:

- ښاغلی ښوونکی دې لـه زده کوونکو څخه وغواړي چې د کال د موسمونو په اړه خبرې وکړي.

## د انشاء تمرين:

- د پسرلي د ښيګڼو او ښکلا په هکله يو څو کرښې وليکئ.

# باخبر امیر

د اسلام دویم خلیفه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه د مسلمانانو یو عادل امیر و. د مسلمانانو په خدمت کې یې ستړیا نه حس کوله. د شپې له خوا د مدینې په ښار او شاوخوا کې ګرځېده، چې د مسلمانانو حال ځان ته جوت کړي او په هره معامله کې له اسلامي انصاف څخه کار واخلي.

یوه شپه حضرت عمر رضي الله عنه د یو کور له څنګه تېرېده. ګوري چې د کور په انګړ کې یوه زړه ښځه ناسته ده او په نغري یې کټوه باندې کړې ده. شاوخوا ته یې وړې کوچنیان ناست دي. ژاړي او له مور څخه د خوراک لپاره څه غواړي. مور یې په خبرو ډاډه ور کوي او ورته وایي: "مه ژاړئ، اوس به کټوه پخه شي، تاسو ته به خواړه درکړم؛ یوه شېبه صبر وکړئ!"

کوچنیان به کله غلي شول او کله به یې په ژړا پیل وکړ. مور به بیا په ژړغوني غږ ورته وویل:

"بچیانو! چوپ شئ، خواړه پخېږي!" اخر ناوخته شو، په کوچنیانو خوب زور وکړ او ویده شول.

حضرت عمر فاروق رضي الله عنه چې دا حال ولیده، له بوډۍ څخه یې د ننوتلو اجازه واخیستله. کورته ورننوت او ورته ویې ویل:

"ادي! دا دې څه کول؟ ولې دې ورږو کوچنيانو ته څه ورنه کړل؟"

دکوچنيانو مور وويل:

"زويه! په کټوه کې هيڅ نشته، يو څو ډبرې مې په کې اچولي دي، ماشومان پرې غولوم. اوږه په کور کې خلاص شوي دي."

حضرت عمر ﷺ چې د ورږو کوچنيانو د مور خبرې واورېدې، هغې ته يې وويل: "ته صبروکړه، زه اوس راځم."

خليفه بيت المال ته لاړ، يوه بوجۍ اوړه يې په خپله را په شا کړل او د کوچنيانو مور ته يې کور کې واچول، ورته ويې ويل:

"ادي! لـه اوړو څخـه کوچنيـانو تـه ډوډۍ پخـوه!" د ماشـومانو مـور ډېرې دعاګانې ورته وکړې.

د اسلام د سپېڅلي دين مشران تل د مسلمانانو ورونو او خويندو په خدمت کې وو. د هغوی پوښتنه به يې کوله او له احوال څخه به يې هر وخت ځان خبراوه.

د مسلمانانو اوسني مشران بايد د هغوی په تګ لاره روان شي.

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| انګړ | حویلۍ |
| عادل | با انصافه |
| فاروق | توپیر کوونکی |

## پوښتنې:

ګرانو زده کوونکو!

۱- که د حضرت عمر رضي الله عنه د عدالت په برخه کې مو کومه بله کیسه زده وي، د ټولګي مخې ته راشئ او خپلو ټولګیوالو ته یې ووایئ. ښوونکی دې د عدالت او انصاف په اړه زده کوونکو ته څرګندونې وکړي.

۲- موږ د خپل اقتصادي توان په اندازه له بې وزلو خلکو سره څه وکړو؟

۳- د اسلام د دین د مشرانو مسئولیتونه د خلکو لپاره څه دي؟

# ملي يووالی

هره پانه یې لایقه د ستاینې
په یو باغ کې وې ولاړې ډېرې ونې
په یوه هوا کې ټولې لويېدلې
له یوې ویالې اوبه ورته راتللې
ښه او بد یې وو شریک یویې واکدار و
د دې ټولو یو خزان او یو بهار و
لکه ګوتې د یوه وجود دلاس وې
ځینې جګې ځینې ټیټې کوز او پاس وې
د منې او ناک توپیر له ورا معلوم و
چنار لوړ و شفتالو لکه ماشوم و
هرمرغه مو پیژانده له خپل آوازه
د مرغانو نغمې وې پکې ځو رازه
لکه وي چې ولسونه په وطن کې
رنګارنګ ګلونه وو یوه چمن کې

مـــالیـــار و پـــه هـــره ونـــه ډېـــر زهـــېـــر

پـه حقونو کـــې یې نـــــه و څـــه توپیر

پـــــه تمامـــــه معنا یو واحد ملـــــت و

یـو لـه بلـه یې پـه هر څه کې شرکت و

په کې هر قســـمه ګلونـــــه بوټي ګوره

لکه باغ یـــو مملکت وګـــــڼه وروره

بېل رنګونه، بېل غړونه، بېل خویونه

دوه سکه وروڼه لري بېل بېل نومونه

مګر دواړه اوسېدونکي دیو کور دي

د یوې سترګې په کور کې سپین او تور دي

(اروانښاد ګل پاچا الفت)

## پوښتنې:

د پورته شعر اساسي مفهوم څه شی دی؟

الف: د باغ د ونو پېژندل دي.

ب: یووالي ته د خلکو رابلل.

ج: د ونو ګټې او د مېوو پېژندل دي.

ګرانو زده کوونکو! د لاندې پوښتنې سم ځواب وټاکئ.

۱. د جګو او ټیټو ونو څخه څه مطلب دی؟

الف: مقصد یې نارینه او ښځه پېژندل دي.

ب: د مشرانو او همزولو پېژندل دي.

ج: ټولنیز توپیر.

۲. د لوستل شوي شعر اصلي مطلب په خپو کرښو کې ولیکئ.

# له تناکو ډک لاسونه

کوم لاسونه چې تناکې شي په کار کــې
په کوښښ او په خدمت د وطن لار کــې

ښکلوو مورې هغه لاس په ډېــره مــینه
احتــرام دې هـــر ســـړی باید کـــوینه

چا تناکې چې په کار کې کړه لاســـونه
مستحق دی چې یې وشي تعظیمـــونه

کوم لاسونه چې بیا ښکل په احترام شي
په کوښښ باندې دکار باید مدام شـــي

پولۍ لاس که چېرې نه وي په دنیا کې
زحمت کښه انســانان پــه هــره خواکـــې!

وږې، تږي به مورې تول یو داســـې پاتې
نه لباس نه به جامې وي دومـــره زیاتې

د انسان نېکمرغي په کسب او کار کې نغښتې ده.

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| تناکې | پولۍ |
| ښکل | مچې کول |

**پوښتنې:**

۱. کوم لاسونه د ښکلولو وړ دي؟
۲. د انسان نېکمرغي په څه شي کې نغښتې ده؟
۳. د کار ښېګڼې او د بېکارۍ زيانونه کوم دي؟ خبرې پرې وکړئ.

**سپارښت:**

- د کا راو زيار په اړه دې زده کوونکي خبرې وکړي.

# د شاتو مچۍ

د شاتو مچۍ ګډه او ټولنیز ژوند لري. د شاتو مچۍ په خپله خپل کورونه جوړوي او منظم ژوند په کې کوي.

د شاتو مچۍ په تودو، شنو او سمسورو ځایونو کې ژوند کوي او د خپل ورځني فعالیت او هڅو په مرسته په خپلو ځایونو کې د ژمي لپاره خوراکي توښه برابروي. د شاتو مچیو له ډېرو پخوا زمانو راهیسې د دیوالونو او ونو په چاودونو کې د استوګنې ځایونه یا چکونه جوړول، چې دغه کار اوس هم په زیاترو ځنګلونو کې لېدل کېږي. نن سبا ورته یو ډول صندوقونه جوړ شوي دي چې په منځ کې یې د موم تختې ایښودل شوي وي. د دغو تختو په منځ کې یو څه خالي ځای موجود وي او په تختې باندې د مچیو د کورونو د جوړېدلو کار او استوګنه اسانوي.

د شاتو مچۍ له ګلانو او بوټو څخه شیره زبېښي او په دې خونو کې یې اچوي. په یو چک کې د شاتو د مچیو شمېر څه نا څه (۷۰۰۰۰) ته رسېږي، چې یوه په کې ملکه، څو سوه نارینه او نور کارګران وي. د دغو ټولو مچیو مشري د ملکې په غاړه وي.

ملکه زیاتره د ورې او غوبې په میاشتو کې هره ورځ دومره ډېرې هګۍ اچوي، چې شمېر یې (۳۰۰۰) ته رسېږي. له دغو هګیو څخه د شاتو دمچیو نوی نسل راوځي. په نوي نسل کې ځینې

وخت څو ملکې هم وي. د شاتو د مچيو فني کسان کوښښ او هڅه کوي چې يوه ملکه له نورو مچيو سره په جلا او بېل صندوق کې واچوي تر څو په دې ډول د شاتو د مچيو شمېر او صندوقو نه زيات شي.

د دغو مچيو بل ډول کارګرې مچۍ دي. دا ډول يې ټولې ښځينه وي او په ۲۱ ورځو کې غټېږي. کارګرې مچۍ د نوي نسل پالنه کوي او چک هم جوړوي. د خوراکي موادو لکه د ګلانو د شيرې د خوږو شربتونو او اوبو راوړل، د ځالې پاک ساتل او د ژمي په موسم کې د خپل کور ګرم ساتل هم د دغو مچيو دنده ده.

کار ګرې مچۍ د ګلانو له شيرې څخه شات جوړوي. همدارنګه په باغونو کې له مېوو او دانو څخه هم شات جوړوي. بيا يې د خولې له لارې بېرته راباسي او په ګبين کې يې زيرمه کوي.

نارينه مچۍ د چک په جوړولو او د توښې په زېرمه کولو کې برخه نه اخلي او نېش هم نه لري. د نارينه مچيو دنده يوازې د نسل د پاينښت او پيدايښت لپاره وي. ددغو مچيو بدن په ۲۴ ورځو کې بشپړېږي او يوائې يو اوړی ژوند کوي او وروسته مري.

د شاتو مچيو ټول کارونه په خپلو کې ويشلي وي، چې ځينې يې خواږه او موم برابروي. ځينې نور يې د ملکې او د مچيو د وړو بچو خدمت او پالنه کوي.

شات چې له مچیو څخه په دې ډول لاس ته راځي، څو ډوله رنګونه لري. لکه سپین، ژېړ او سره شات. دا ځکه چې د ګلانو له بېلابېلو رنګونو څخه په لاس راځي. په یو حدیث شریف کې هم د شاتو یادونه شوې ده.

شات د نس ناستي او نورو ډېرو ناروغیو لپاره ګټور دي. د شاتو خوړل انسان ته ډېره ګټه رسوي. وایي چې شات د اعصابو لپاره ډېره ګټه لري. زیاتره خلک د شاتو له خوړلو څخه ګټه اخلي. د نن‌ني عصر زیاتره خلک د شاتو د مچیو د ساتلو په کار بوخت دي. ډېر شات ور څخه لاس ته راوړي. د شاتو حاصلات د مچیو په خوارو او هوا پورې اړه لري. که هوا ښه او ګلان ډېر وي نو په کال کې پنځه، شپږ ځلې ور څخه شات اخیستل کېږي. خلک یې خرڅوي او ډېرې پیسې له دې لارې تر لاسه کوي. نو زموږ ځینې هغه خلک چې باغونه لري او د دغه کار لپاره ورته زمینه هم برابره وي. باید د شاتو د مچیو په روزنه بوخت شي او له دغې لارې نه له یوې خوا خپل اقتصادي حالت ښه کړي او له بلې خوا شات چې بشپړ خواړه دي، لاس ته راوړي. په دې کار به یې هم خپله، کورنۍ ترې ګټه واخلي او هم یې نورو خلکو ته خیر ورسېږي.

---

- ❖ ښوونکی دې د شاتو مچیو د ګډ ژوند او فعالیت په هکله له زده کوونکو څخه معلومات وغواړي.
- ❖ شات څرنګه خواړه دي؟
- ❖ زموږ د هېواد په کومو برخو کې د شاتو مچۍ روزل کېږي.

## پوښتنې:

۱- مچۍ څه ډول ژوند لري؟

۲- ګډ ژوند څه ګټې لري؟

۳- زده کوونکي دې د ګډ ژوند په هکله خبرې وکړي.

۴- د شاتو د مچيو کور په څه نامه يادېږي؟

۵- مچيو ته څوک کور جوړوي؟

۶- مچۍ په کورونو کې څه کوي؟

۷- د شاتو مچيو د روزنې اقتصادي ارزښت څرګند کړئ !

۸- د شاتو خوړل د انسان بدن ته څه ګټه رسوي؟

## د انشاء تمرين:

- له پورته لوست څخه چې مو څه زده کړي هغه په خپلو کتابچو کې وليکئ.

# کعبه شریفه



کعبه شریفه د مسلمانانو قبله ده. ټول مسلمانان د لمانځه په وخت کې د کعبې شریفې په لورې درېږي. کعبې شریفې ته بیت الله شریف هم وایي.

هر کال یوزیات شمېر مسلمانان د حج د فریضې دادا کولو لپاره کعبې شریفې ته ځي. کعبه شریفه د مکې معظمې په ښار کې پرته ده.

زموږ پیغمبر حضرت محمد ﷺ هم د مکې معظمې په ښار کې پیدا شوی دی. کله چې کفارو په مکه معظمه کې د حضرت محمد ﷺ د وژلو نیت وکړ، نو پیغمبر ﷺ د خدای ﷻ په امر له مکې معظمې څخه مدینې منورې ته هجرت وکړ او هلته یې هم خلک د اسلام مبارک دین ته رابلل او د خدای ﷻ د رضا لپاره یې د

کفارو په مقابل کې جهاد کاوه. په دې لاره کې یې ډېرې ستونزې او تکلیفونه وګالل. د هجرت په اتم کال مکه معظمه فتحه او بېرته د مسلمانانو لاس ته ورغله. مسلمانان له کعبې شریفې سره مینه لري.

---

**پوښتنې:**

۱- مسلمانان ولې کعبې شریفې ته درناوی کوي؟

۲- د نړۍ مسلمانان په کوم اختر کې د حج لپاره کعبې شریفې ته ځي؟

۳- له حج کولو څخه مقصد څه دی؟

۴- زموږ پیغمبر حضرت محمد ﷺ چېرته زېږېدلی دی؟

**سپارښتنې:**

- له زده کوونکو څخه دې پوښتنه وشي چې د خپل کلي د حاجیانو نومونه واخلي او ویې شمېري. بیا دې پوښتنه وکړي چې دوی ته ولې حاجیان وایي؟ دې بحث ته دوام ورکړئ ترڅو چې زده کوونکي د کعبې شریفې په اړه پوره معلومات تر لاسه کړي.

لاندې کلمې په جملو کې وکاروئ:

- قبله - حج - ښار - مینه

# علـــم

د انسان عزت پـــه علم، پـــه کمال دی

نه په ملک او نه په شتو د جاه و مال دی

د پتنګ په څېر د پوهې لور ته ځغـــله

خدای نه مومې ته پـــه جهل کې هېڅکله

هوښیار ټول عمر د علـــــم طلبګار وي

ښه توده ســـودا د علـــــم په بازار وي

هغه چاته چې ازل کې بخت رفـــیق وي

نو یې ټول کوښښ د علم په تحقـیق وي

چې پر تا باندې د عـــــلم طلب فرض شو

نو د ځمکې پر مخ تګ وریـــــې فرض شو

(...)

| لغتونه: | معناګانې: |
| --- | --- |
| شته | دارايي |
| ازل | هغه وخت چې پيل يې معلوم نه دی. |
| جاه | مقام |
| مشعل | څراغ |

## پوښتنې:

۱. دانسان عزت په څه کې دی؟
۲. د علم زده کړه په موږ ولې فرض ده؟

## د انشاء تمرين:

- ښوونکی دې له زده کوونکو څخه وغواړي چې د علم په هکله خبرې وکړي او بيا دې د علم په اړه څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکي.

# سخاوت

سخاوت دې ته وايي، يو سړی هغه څه چې په خپل وس او اختيار کې لري، لکه مال، پيسې، علم او د اړتيا وړ شيان له اړو او بيوزلو خلکو سره د خپل وس په اندازې د خدای ﷻ د رضا او خوښۍ لپاره مرسته وکړي.

سخاوت او ورکړه د اسلام په سپېڅلي او مقدس دين کې ډېر ښه، لوړ او ارزښتمن کار بلل شوی دی. سخي سړي ته د خدای ﷻ دوست ويل کيږي. خدای سخي سړي ته په دې دنيا کې عزت ورکوي او مال يې زياتوي، په آخرت کې ډېر ثوابونه هم ور په برخه کوي.

يو صوفي شاعر وايي:

دا دنيا په سخاوت سره زياتيږي
د کوهي اوبه چې باسې لا زياتيږي

همدارنګه يو بل صوفي شاعر د سخاوت د ستاينې په هکله داسې وايي:

نېك عمل سړی سخا کاندي اختيار
هر سخي سړی مدام وي بختيار
په نرمۍ او سخاوت کې جهانګير شه
د نرمۍ او سخا خاوره کې امير شه
د عارفو خلکو کار تل سخاوت وي
د منلو خلکو تل سخا صفت وي
د جمله عيبو پاکوونکی سخاوت دی
د جمله درد جوړوونکی سخاوت دی

څو دې توان وي له سخا نه بېزار نه شې
چې سخا کړې له هيچا به ازار نه شې

| لغتونه: | معناګانې: |
| --- | --- |
| مقدس | پاک، سپېڅلی |
| سخاوت | خير، ورکړه |
| اختيار | واک |
| بختيار | بختور |
| کوهی | څا |
| ثواب | اجر |
| امير | پاچا |
| صفت | ستاينه |

❖ زده کوونکي دې وهڅول شي چې د سخي د ضد (بخيل) په هکله خبرې وکړي.

❖ زده کوونکي دې وهڅول شي چې سخي او بخيل سره پرتله کړي.

❖ سخيان څه کوي؟ د مثال په توګه يې بيان کړئ.

❖ زده کوونکي دې د سخاوت او ورکړې په باره کې څو کرښې په خپلو کتابچو کې وليکي.

# بشر دوستي

څرنګه چې انسان په ټولنیز چاپېریال کې اوسېږي او په کلیو بانډو او ښارونو کې ګډ ژوند کوي، باید د ژوند په ټولو چاروکې یو له بل سره همکاري، مرسته او د ستونزو او کړاوونو په وخت کې خواخوږي ولري. که چېرې یو ناروغ ووینو هغه باید روغتون ته ورسوو. که د درملو د اخیستلو پیسې ورسره نه وي د خپل وس او توان په اندازه ورته نغدې پیسې ورکړو.

د خپلو خپلوانو او ګاونډیانو له حال احوال نه ځان خبرکړو او په ډېره مینه او محبت ور څخه د روغتیا او ناروغۍ پوښتنه وکړو. څرنګه چې موږ انسانان یو، دا د انسانیت دنده ده چې د نړۍ له ټولو انسانانو سره مینه خپله بشري فریضه وبولو.

هر انسان د قدر او د درناوي وړ دی، باید ناپوهو کسانو ته د سمې لارې لارښوونه وکړو. دغچ اخیستو پرځای د بښنې روحیه په ځان کې وروزو، ځکه چې اصلي خوښي په بښنه کې ده نه په غچ اخیستنه کې.

له هر انسان سره په کړو وړو کې په خوږو الفاظو خبرې وکړو. د خپل بدن په وینه او رګونو کې انسان دوستي وروزو، ځکه دا د انسانیت تر ټولو غوره مقام دی. د انسان ژوند یوازې د دې لپاره نه دی چې خپل ځان سوکاله کړي.

بلکې د نورو سوکالۍ ته هم په ډېر ارزښت قایل شي. لنډه دا چې د انسانیت د بشپړېدو له ټولو څخه غوره او په زړه پورې لار بشر دوستي او له خپل همنوع سره د زړه له کومي خوا خوږي ده.

موږ باید د ټول بشریت په غم او ښادۍ کې خپل ځان شریک وبولو، دا ځکه چې له نورو سره مینه له خپل ځان سره د مینې او محبت معنا لري.

---

| لغتونه: | معناګانې: |
| --- | --- |
| غچ | بدل اخیستل، انتقام |
| سوکالي | آرامي |

## پوښتنې:

۱- څوک د بشر دوستۍ مثالونه ویلی شي؟

۲- څوک د پورته لوست په مطلب باندې خبرې کولی شي؟

## د انشاء تمرین:

- د بشر دوستۍ په هکله په خپلو کتابچو کې یوه لنډه مقاله ولیکئ.

# آزادي او د ژوند حق

يوه ورځ د حضرت عمر(رض) د خلافت په موده کې د عمرو بن عاص(رض) زوی چې پلار يې د مصر والي و، د قطبيانو له يوه سړي سره د ځغاستې مسابقه وکړه، مصري سړی ترې مخکې شو، خو د عاص(رض) زوی په هغه دره چې په لاس کې يې وه هغه وواهه او ويې ويل: "زه د ډيرو غوره شوو زوي يم." مصري سړی د شکايت لپاره مدينې منورې ته ولاړ او شکايت يې وکړ.

حضرت عمر(رض) له عمرو بن عاص(رض) څخه په يو ليک کې وغوښتل چې له خپل زوی سره مدينې منورې ته ور شي. عمر و بن عاص (رض) له خپل زوی سره مدينې منورې کې د حضرت عمر (رض) حضور ته ورسېدل. حضرت عمر(رض) يوه دره مصري سړي ته په لاس ورکړه او ورته يې وويل: "د غوره شوو زوی ووهه". مصري د عمرو بن عاص (رض) زوی په دره وواهه او کله يې چې وهل بس کړل، نو حضرت عمر (رض) د عمر و بن عاص(رض) زوی ته په خطاب کی وويل:
"له کومه وخت نه مو خلك مريان کړي؟ په داسې حال کې چې هغوی يې ميندو نړۍ ته آزاد راوړي دي.

۱۶ جوزا ۱۳۸۱
د افغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون

## *د ميرمنې او ميړه په ټاکلو کې د (ښځې او نارينه) دواړو خوښې د کورنۍ او ټولنې سلامتي ده.*

..........................................

کورنۍ د ټولنې اساسي رکن دی او د دولت تر پاملرنې لاندې ده.

(دافغانستان داساسي قانون له څلورپنځوسمې مادې څخه)

کورنۍ د ټولنې د جوړولو ستنه ده او واده کول د هغې بنسټ جوړوي، نوځکه ښځې او نارينه د واده کولو حق لري او هيڅ داسې يوبنديز چې دنژاد، رنګ او ياهم دقوم له مخې وي، نشي کولای چې د دغه حق مخه ونيسي.

(دبشري حقونو داسلامي اعلاميې پنځمه ماده، دالف بند)

# څـــــرنګه کـــــور؟



د کور په جوړولو کې باید ډېر پام وکړو، چې د کور کوټې مو پوره لمر ولري.

د کوټو دکړکیو مخه باید د لمر لوري ته وي، ترڅو پاکه او تازه هوا کوټوته ورننوځي. له بلې خوا کوټې باید داسې آبادې شي چې زېم وانه خلي. د کومو کوټو مخه چې د لمر خواته وي په ژمي کې ډېرې ګرمې وي. د داسې کوټو فضا د لمر په وړانګو روښانه وي. همداراز د کور تښی (بیت الخلا) باید له ښا څخه لرې جوړه شي، ځکه له تښی څخه ډېرې ناروغۍ پیدا کېږي. د پاک کور په جوړونه کې د ځان مینځلو تشناب باید داسې جوړ شي، چې د اوبو د تللو ویاله یې له کور څخه په مستقیم ډول د باندې وتلې وي، ترڅو استعمال شویو اوبو لکه د ځان مینځلو او د کالیو پرې مینځلو

چتلې اوبه له کور څخه د باندې ووځي. که چېرې موږ د کور په جوړولو کې دغو ټکو ته پاملرنه وکړو، نو په حقیقت کې به موږ په خپل کور کې د زیاتو ناروغیو مخنیوی کړی وي. او هم به موږ د پاکو کورونو خاوندان واوسو.

له بله پلوه څرنګه چې زموږ په هېواد کې د کور د جوړونې خام مواد په ډېرو برخو او کلیوالو سیمو کې په طبیعي توګه پیدا کېږي، نوځینې کورنۍ کولی شي د غره په لمن کې ځانته د استوګنې لپاره کورونه جوړ کړي. خو په دې خبره باید پوه شو چې د کور جوړونه نوښت، زیار او جرئت غواړي.

که چېرې له موږ سره نوښت او جرئت وي په ډېرو لږو شرایطو او امکاناتو به د پاک کور په جوړولو بریالي شو.

هو! د نړۍ ژوند د کار، زیار، او نوښت محصول ګڼل کېږي.

---

**پوښتنې:**

۱- پاک کور د څه لپاره ډېر مهم دی؟

**۲**- د یو سم او پاک کور جوړول له موږ څخه د څه شي غوښتنه کوي؟

**د انشاء تمرین:**

له پورته لوست څخه چې مو څه زده کړل تاسې یوه لنډه مقاله پرې ولیکئ، چې له شپږو کرښو څخه کمه نه وي.

نوښت ابتکار

# ملا مشک عالم

ملا دین محمد چې په (مشک عالم) مشهور دی، د اندړو له قبیلې څخه و. ملا مشک عالم ښه عالم او فاضل سړی و. ډېر شاګردان یې درلودل. ډېرو وګړو درس ور څخنې لوست او له ده څخه یې علمي معلومات زده کول.

ملا مشک عالم د غازیانو له مشرانو څخه و، چې د هېواد او خلکو د حقونو په لاسته راوړلو او ساتنه کې له غازي محمد جان خان او نورو زړورو پښتنو سره ملګری او شریک و. د هېواد لپاره یې علمي او پوځي خدمتونه کړي دي، چې نوم یې تر اوسه پورې ژوندی دی.

---

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| فاضل | دانا او پوه |
| وګړو | خلکو |

## پوښتنې:

۱- ملا مشک عالم څوک و او څه خدمتونه یې کړي دي؟
۲- ملا مشک عالم د چا ملګری و او د ده نوم څه و؟

سپارښتنه:

- ښوونکی دې لاندې جمله په توره تخته ولیکي بیا دې زده کوونکو ته لارښوونه وکړي چې په خپل منځ کې د سوال او ځواب په ډول په هغې باندې خبرې وکړي.

"ملا مشک عالم د هېواد لپاره علمي او پوځي خدمتونه کړي دي، چې نوم یې تر اوسه پورې ژوندی دی."

## د انشاء تمرین:

- د ملا مشک عالم په باره کې یوه لنډه مقاله ولیکئ.

# په اسلام کې تمدن

له انس بن مالک نــــه روایت دی

صحابه و کې خاوند د ښه شـــــهرت دی

همدغه انس ﷺ صاحب داسې فرمـایي

دا ګفتار هم په دا شان کړی حضـــرت دی

په ورین تندي یو بل ته مخـــامخ شئ

همدردی، او اتفــاق کــې ســعادت دی

په مـرض د ځـــانځانی، واړه اختــــه یو

پاتې مونږ نـــه مشوره او مصــلحت دی

یو د بل په بیـــخ کنـــدی، پســـې اړم یو

د نفـاق پــــه مونږ کې ګډلوی مصیبت دی

دا زمونږ د پســـمانی، ټول عـــوامل دي

او که نه اسلام کـــې ډېر ښه مدنیـــت دی

راځئ ورونو! چې اسلام باندې روان شـــو

په اســـلام کې تمدن او ښــــه نهضت دی

اتحاد او اتفاق ځـــان کې پیـــدا کـــــړو

د خیانـــت په ځای په کــار ښه صداقت دی

ګوري وروڼو پـــــــه تعـمیل ددې کارونو

په کار مونږ تـــــه قوي عزم، لوړ همـــت دی

(مولوي محمد ابراهیم "همیم")

---

**لغتونه:** **معناګانې:**

صحابه — د پیغمبر ﷺ د زمانې یاران او ملګري.

ځانځانی — بې اتفاقي.

## سپارښت:

- ښوونکی دې له زده کوونکو سره د بیتونو او لغتونو په معناوو کې پوره مرسته وکړي.

## د انشاء تمرین:

زده کوونکو!

- دغه درس څو ځلې په کور کې ولولئ او بیا یې مطلب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

## پوښتنې:

۱. شاعر په پورتني شعر کې له څه شي څخه خبرې کړي دي؟

۲. په ټولنه کې اتحاد او اتفاق څه ګټه لري؟

۳. د یوې ټولنې د وروسته پاتې والي عوامل کوم شیان دي ویې لیکئ؟

# د سرو زرو خزانه

په یو کلي کې یو سپین ږیری سړي ژوند کاوه. هغه یو باغ درلود. دی ناروغ شو. له ځان سره یې سوچ وکړ، چې نن وي که سبا لـه دې فـاني نړۍ څخه به سترګې پټې کړي. نو باید لـه خپلې مړینې څخـه مخکې خپلو زامنو تـه یـو ګټـور درس ورکـړم. خپـل زامـن یـې راوغوښتـل او ځینې لارښوونې یې ورته وکړې. ددې لارښوونو په لړ کې یې هغوی تـه وویل: " ما په خپل بڼ کې د سرو زرو خزانه ښخه کړې ده، تاسې دغـه خزانه ولټوئ! پیدا یې کړئ! او ګټه ترې واخلئ!"

دا سپین ږیری مړ شو. زامنو یې په ډېر درناوي ښخ کړ. د خپـل خدای بښلي پلار لـه دعا اخیستلو څخه وروسته یې د هغه په وینا عمل پیـل کړ. پلار د خپلو لارښوونو په لړ کې زامنو ته ویلي وو، چې ده پـه بـاغ کې د سرو زرو خزانه ښخه کړې ده، هغه را وباسئ او ګټه ترې واخلئ. زامنو یې هره ورځ د پلار لـه لارښوونې سره سم بېل، بېلچه، کـولنګ، او تسکوره را واخیستل، باغ ته به ورتلل او د خزانې د مونـدلو لپـاره به یې د باغ ځمکه اړوله را اړوله. دوی ټول باغ په بل مخ واړاوه، خو د سرو زرو خزانـه یې و نـه مونـده. ډېـر خواشیني شـول. بېرتـه یې د بـاغ

پولې، لښتي، هدې او پټې جوړ کړل او د پخوا په څېر يې د باغ ساتنې ته دوام ورکړ.

دا چې د باغ د ونو بېخونه د ځمکې په اړولو را اړولو ډېر نرم او پاسته شوي وو، ونې ډېرې ښېرازه او ځواکمنې شوې، ډېره مېوه يې ونيوله. مېوه يې ورو ورو پخه شوه. د بزګر زامنو د باغ مېوه راټوله کړه او ويې پلورله. هغوی چې په دې کال د خپل باغ د حاصل حساب وکړ، له پخوا څخه يې حاصل څو وارې زيات و.

په دې وخت کې هغوی ته د پلار خبره ور ياده شوه او پوه شول، چې د سرو زرو له خزانې څخه د دوی د خدای ښښلي پلار مو خه په باغ کې ښه کار کول و.

که په باغ کې ښه زيار واېستل شي، ډېر ښه حاصل او مېوه دانه ورکوي. د بزګر زامن چې د خپل پلار د خبرې په مطلب پوه شوي وو، تل يې هغه په ياد ساتله. هر کال به يې په بڼ کې هماغسې زيار اېسته او ښه ګټه به يې ترې اخيستله.

| لغتونه: | معناګانې: |
| --- | --- |
| فاني | له منځه تلونکی |
| هډۍ | د پښې یوه کوچنۍ برخه |
| لړ | سلسله |
| سوچ | فکر |
| خواشینی | خپه |
| بڼ | باغ |
| موخه | مقصد |

## سپارښت:

- له زده کوونکو څخه دې پوښتنې وشي، چې هر یو دهغو کارونو په اړه خبرې وکړي چې کورکې یې سرته رسوي.
- له زده کوونکو څخه دې وغوښتل شي چې زیارکښ او بې پروا زده کوونکي سره پرتله کړي.

❖ ګرانو زده کوونکو! کار او زیار څه ګټه لري، له بیکارۍ سره یې پرتله او یو څو کرښې پرې ولیکئ.

# هیرویین ژوند پای ته رسوي

هغه وګړي چې ددغو ناوړو او زیان رسوونکو موادو په استعمال اخته دي، نه یوازې له ورځني ژوند څخه پاتې کېږي او د ټولنې د اوږو بار کېږي، بلکې هیرویین یې له څکولو وروسته په وینه کې ګډېږي. بیا د همدې لارې د مغزو نریو رګونو ته رسېږي. د دې رګونو شمېر سل ګونو ته رسیږي او د بدن ټول ارګانیزم اغېز من کوي او بیا د ژوند چارې سرته نشي رسولی.

د هیرویینو د څکولو له امله د مغز په ګډون د ټول بدن قوت کمېږي او وروسته یې بیخي له کاره اوباسي. د دغه ناوړه عمل په تکرارولو د څکوونکي دماغي حالت خرابېږي، چې ځینې کسان بیخې لیوني او د تصمیم نیولو قدرت او توازن یې له منځه ځي. پردې سر بېره د انسان په هاضمي سیستم باندې بده اغېزه هم کوي او بې اشتهایي پیدا کېږي. معده کمزورې کېږي او له فعالیت څخه لویږي. همدا راز دغه مواد چې د متیازو له لارې وځي، له دې امله یې بولي جهاز یا سیستم هم اغیزمنه وي. لنډه دا چې په

هیروییېنو روږدي انسانان د یو کال په اوږدو کې خپل ژوند له ډېر کړاو نه  وروسته له لاسه ورکوي.

---

**پوښتنې:**

۱- د هیروییېنو د زیان په هکله مو له لوست څخه څه زده کړل؟

۲- د هیروییېنو څکول ولې د یو کال په اوږدو کې ژوند پای ته رسوي؟

۳- هغه کسان چې هیروییېن څکوي ولې د ورځني ژوند چـارې سرته  نه شي رسولی؟

۴- هیروییېن څه ټولنیز زیانونه لري؟ خبرې پرې وکړئ.

**د انشاء تمرین:**

- د هیروییېنو په ناوړو موادو باندې څو کرښې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# کار او زیار

ټکنده غرمه وه، هلکان له ښوونځي څخه رخصت شول. ډله ډله خپلو کورونو ته روان وو. ننګیالی هم له خپل ښوونکي سره چې کورونه یې په یوه ځای کې وو، روان شو. په لاره کې یو پارک ته ورسېدل، چې یوه برخه یې جوړه او په بله برخه کې یې تراکتور کار کاوه.

د پارک دا برخه چې ښکلې جوړه شوې وه، د ننګیالي ډېره خوښه شوه او ښوونکي ته یې وویل: "استاذه! دا پارک څومره ښکلی جوړ شوی دی." هغه ورته وویل: "هو، نن په نړۍ کې د ژوند بنسټ په کار او زیار باندې ولاړ دی. دا چې د دنیا پر مختللې هېوادونه لوړو پوړیو ته رسېدلي دي. دا ټول د کار او زیار نتیجه ده، ځکه نو په نړۍ کې زیار ایستونکي انسانان د پرمختللو هېوادونو په کتار کې ولاړ دي."

بېکاره او بې زیاره ژوند تل خوار، بې واکه او بې خونده وي. د بېدارې نړۍ یو پوه وایي، د خپلې ټولنې حق یوازې د کار په وسیله پر ځای کولی شو.

څه ښه وایي، د بزګرو او زیارکښو کورنیو ته لوږه د ننوتلو جرئت نه لري.

---

پوښتنې:

١. د کار او زیار ګټې څه دي؟
٢. څوک چې کار کوي او زیار باسي په ژوند کې څه وي؟

# خپله ژبه هم کلا ده هم بلا ده

یوه سړي یوه ورځ خپل نوکر ته وویل:

"نن راته له یو ډېر ښه شي څخه خواړه پاخه کړه!"

نوکر د پسه له ژبې څخه خواړه ورته تیار کړل او بادار ته یې راوړل. بادار پوښتنه ځنې وکړه: "دا خوراک دې له څه شي څخه تیار کړی دی؟"

نوکر وویل: "د پسه له ژبې څخه" ځکه تا ویلي وو، چې له ډېر ښه شي څخه راته خواړه تیار کړه" په دنیا کې تر ښې ژبې بهتر څه شی دی؟"

بادار یې بله ورځ د ازمایښت لپاره ورته وویل: "نن غواړم چې له یو ډېر بد شي څخه راته خواړه تیار کړې." نوکر دا ځلې هم د پسه له ژبې څخه خواړه تیار کړل.

بادار چې دا خواړه ولیدل، نو پوښتنه یې ځنې وکړه. دا خواړه دې له څه شي څخه تیار کړي دي؟

نوکر ځواب ورکړ، چې د پسه له ژبې څخه، ځکه تاسې ویلي وو چې له ډېر بد شي څخه راته خواړه تیار کړه. په دنیا کې به تر بدې ژبې بد تر څه شی وي؟

بادار حېران شو، پوښتنه یې ځنې وکړه. "دا څنګه کېدلی شي چې ژبه هم تر ټولو ښه او هم تر ټولو بد شی وي؟"

نوکر وویل: "نیکي او بدي ټوله له ژبې څخه ده. که ښه وي، نو تر دې ښه څه شی دي او که بده وي، نو تر دې بد څه شی دي؟"

ژبه عادت کـــړه پـــه ښــو خـــبرو

خبرې ښې دي، ښې تر شـــــــکرو

د خوند مثـــــال یې شـــکرې وایم

قـــدر یې ډېر دی تر مرغــــــلرو

(عبدالقادر خټک)

---

لغتونه: معناګانې:

طعام خواړه

پلا وار

تعجب حېرانتیا

غذا خواړه

پوښتنې:

١. سړي خپل نو کر ته څه وویل؟
٢. نوکر له څه شي څخه ورته خواړه تیار کړل؟
٣. له دې کیسې څخه مطلب څه دی؟

ګرانو زده کوونکو!

پورته بیتونه په ښکلي لیک سره په خپلو کتابچو کی ولیکئ او بیا یې په نثر واړوئ.

❖ یادونه: ښوونکی دې زده کوونکي د درس په موخه وپوهوي.

## مکتب

که کمال غواړې خو لوی کمـــال مکتب دی
د اولاد د اســـتقـــبال اقبـــال مکـتب دی

که ژونـدون دې د اولاد غواړې چې خوږ وي
ما لیـــدلی د ژونــــدون زلال مکـتب دی

که ادب اصــــــلاح دې خوښ وي د زامنو
ددې امر ضامـــن لا محــا ل مکتـــب دی

که زینت حســــن دې خوښ وي د اولاد څه
د ښایســــت لپاره خط او خـــال مکتب دی

که عشـــرت او خوشـحالي د اولاد غـــواړې
دې عشرت لپاره ځوړند تـــال مکتب دی

هر کمـــال چې پـــورته کېږي په دنیــــا کې
ښه معمـــار ګوره د دې دیـوال مکـتب دی

کــــه پـــرواز د اروپـــــا د طيـــــارو دی

چلوونکـــی يې د پـــر او بـــال مکـــــتب دی

که دې ښکار کول د علم و فن په کـــــار وي

ښه تکړه صياد د دې غزال مکتـــــــــب دی

که څوک بخت او طالـــع ګوري په نجوم کې

د (اخلاص) په نظر هســـې فال مکتب دی

(اخلاص)

---

## پوښتنې:

۱- له پورته شعر څخه مو څه نتيجه واخيسته؟

۲- د پورته شعر مطلب په نثر وليکئ.

## سپارښت:

- ښوونکی دې د پاس شعر سخت او مشکل کلمات زده کوونکو ته معنا کړي.
- ښوونکی دې د ښوونځي په اړه زده کوونکو ته خبرې وکړي.
- ښوونکی دې زده کوونکي وهڅوي چې د شعر په مطلب په پښتو ژبه خبرې وکړي.

# عالمان

عالمان په ټولنې کې د خلکو د لارښوونکو په توګه پېژندل شوي دي. هغوی خلک د ناپوهۍ له تورو تيارو څخه د پوهې روښنايئ ته راباسي. عالمان تل زيار کاږي. چې ټولنه د نېکمرغۍ، خير او فلاح لورې ته روانه کړي.

عالمان د خدای(ج) احکام، د پيغمبر (ص) وينا وې او لارښوونې خلکو ته رسوي، د دين او شريعت له حکمونو يې خبروي، خپل او د بل حقونه ور په زړه کوي او د اسلامي ورورولۍ او ټولنيز رغنده ژوند لوري ته يې هڅوي.

عالمان په ټولنې کې ډېر لوړ دريځ لري. خلک يې خبرو ته غوږ نيسي او درناوي يې کوي. په کومې ټولنې کې چې څوک د عالمانو خبرو او لارښوونو ته غوږ نه نيسي، د بدمرغۍ او تباهۍ تورې کندې ته ورلوېږي.

رحمان بابا په دې اړه وايي:

عالمان دي روښنايي د دې دنيا
عالمان دي د تمام جهان پېشوا
که څوک لار غواړي و خدای او هم رسول ته
عالمان دي د دې لارې رهنما
کيميا ګر که د کيميا په طلب ګرځي
همدمي د عالمانو ده کيميا

په مجلس د عالمانو به سره زر شي
که وي کاني او يا لوټې د صحرا
جاهلان دي په مثال د مرده ګانو
عالمان دي په مثال د مسيحا
هر سړی چې رتبه نه لري د علم
سړی نه دی خالي نقش دی ګويا
زه رحمان حلقه بګوش د هرعالم يم
که اعلی دی که اوسط دی که ادنا

(رحمان بابا)

---

| لغتونه: | معناګانې: | | |
|---|---|---|---|
| پېشوا | لارښوونکی | جاهلان | ناپوهان |
| فلاح | خلاصون | مسيحا | عيسٰی عليه السلام، ژغورونکی |
| رهنما | لارښوونکی | رغنده | سم |

## د انشاء تمرين:

ګرانو زده کوونکو!

- د شعر لومړی بيت په نثر واړوئ.
- په ټولنې کې د عالمانو او د علم او پوهې ارزښت څه شی دی؟

## سپارښت:

- ښوونکی دې پورتنی درس معنا کړي او هم دې د عالم مقام، منزلت او اهميت په ټولنه کې څرګند کړي.

# دموکراسي

د موکراسي یا ولسواکي د یو نظام نوم دی. د دموکراسۍ نظام په قانون، آزادۍ او اخلاقو ولاړ دی. له آزادۍ څخه موخه او هدف بېباکي نه ده. له قانون څخه موخه هغه قانون دی چې د ملت په خوښه جوړ شوی وي.

له اخلاقو څخه موخه دا ده چې هر انسان به د بل د حقونو داسې پام او مراعات کوي لکه د ځان. څرنګه چې د ټولنو او ملتونو قوانین او اخلاق توپیر لري، نو د موکراسي یې هم په جلا جلا ډول وي. له هغو آزادیو څخه چې د دموکراسۍ تعمیر او ماڼۍ ور باندې ولاړه ده، زیاتې مهمې دغه درې آزادۍ دي:

د بیان آزادي، د قلم آزادي او د عقیدې آزادي.

کوم وخت چې انسان د دموکراسۍ نظام ته نه و داخل شوی، نو یو به د بل په لاس د زور په واسطه اداره کېده. یو انسان به بل انسان بې ځایه واژه، هغه به یې بندي کاوه، مال او شتمني به یې ورڅخه په ظلم او زور سره اخیستله.

غلام او مریې به یې ترې جوړاوه. په ډول ډول عذابو یې په عذاباوه. په هغه وخت کې د زورور زړه په بې وزلي او کمزوري نه خوږېده. هیڅ کمزوري د زورور په مخکې د هیڅ شي غوښتنه نشوای کولی.

په دموکراسي نظام کې چاته زیان مه رسوه. له قانون څخه سرغړونه مه کوه. نور چې هر څه کوې د قانون او اخلاقو په چوکاټ کې به

يې کوې. بيا نو هېڅوک ستا په کار کې د مداخلې حق نه لري. دموکراسي کې که چا په چا باندې بې ځايه تيرى وکړ قانوني مراجع د هغو په پوښتنو مکلف دي. د دموکراسي په حکومت کې د حکومتونو دنده داده چې د ملت مرام، د ملت منلى سياست او د ملت په لاس اېښودل شوي قوانين پرمخ بوځي او هغه عملي کړي. حکومت د ملت دهيلو تمثيل کوي. دموکراسي حکومت له ملت څخه بيل شى نه دى، يوازې دا هغه غوره کسان وي چې د ملت په خوښه او غوښتنې باندې د لياقت، فعاليت او صداقت په توګه کارونه ورسپارل شوي وي او ملت د اشتباه په وخت کې له حکومت څخه قانوني پوښتنې کولى شي. البته ملت د قانون ماتونې او د اخلاقو له اصولو څخه د باندې حق نه لري.

په لنډه توګه دموکراسي هغه نظام دى چې په سيوري کې يې هر انسان د خپل استعداد په اندازه کار او دنده تر لاسه کولى شي.

---

پوښتنې:

۱- دموکراسي څه ډول نظام ته وايي؟

۲- د دموکراسۍ په هکله څو کرښې وليکئ.

۳- آيا په يو ديموکراتيک نظام کې حدود شته او که د هر چا هر څه زړه وغواړي، کولى شي؟

# د ضرورت لیک

نېټه / / /

د میرویس نیکه د ښوونځي ښاغلی سر ښوونکی صاحب،

السلام علیکم ورحمت الله و برکاته

زه زمرک د ګل محمد زوی د اووم (ب) ټولګي زده کوونکی ضروري کار لرم.

ښوونځي ته د لوست لپاره درتلای نه شم. هیله لرم چې ناسوب ونه شمېرل شم.

په درناوي

لاسلیک

---

پوښتنې:

۱- د ضرورت لیک په کوم وخت کې لیکل کېږي؟

۲- زده کوونکي دې یو بل ته د ضرورت لیک املا وایي.

سپارښته:

- ښوونکی دې د ضرورت لیک په څېر نور لیکونه هم زده کوونکو ته ورزده کړي. لکه: پلار ته لیک، ورور ته لیک او داسې نور.

# د ناروغۍ لیک

نېټه / / /

د ابو حنیفه (رح) د ښوونځي ښاغلی سر ښوونکی صاحب،

السلام علیکم ورحمت الله و برکاته!

زه عبد الله د محمد شریف زوی د اووم (الف) ټولګي زده کوونکی نن ډېر ناروغ یم. نشم کولی چې ښوونځي ته درشم. هیله لرم چې ناسوب ونه شمېرل شم.

په درناوي

لاسلیک

---

- ګرانو زده کوونکو! د ناروغۍ لیک په یاد زده کړئ.
- زده کوونکي دې یو بل ته د ناروغۍ لیک املا ووایي او بیا دې خپلې تېروتنې د یو بل په مرسته اصلاح کړي.

# د حضرت محمد ﷺ ویناوې

هېڅوک به له تاسي څخه جنت ته داخل نه شي، څو چې د پوره ایمان خاوندان نه شئ او د پوره ایمان خاوندان کیدای نه شئ، څو چې په خپل منځ کې مینه پیدا نه کړئ او ورورولي ټینګه نه کړئ.

څوک چې له کوره د حج، عمرې یا جهاد په نیت ووځي او په لاره کې مړ شي پاک خدای ﷻ ورته د حج، عمرې او غزا ثواب ورکوي.

په تاسي کې له ټولو نه ښه هغه څوک دی، چې قرآن کریم زده کړي او خلکو ته یې وروښیي.

څوک چې په خلکو زړه سوی ونه کړي، پاک خدای ﷻ به هم په هغوی باندې رحم ونه کړي.

څوک چې د خپل ورور له حق څخه د هغه په غیاب کې دفاع وکړي، خدای ﷻ به یې د دوزخ له اوره وساتي.

د هېچا امر چې د خدای ﷻ د امر مخالف وي د منلو وړ نه دی.

---

سپارښتنه:

- ګرانو زده کوونکو! د حضرت محمد ﷺ ارزښتنا کې وینا وې په ښکلي لیک په خپلو کتابچو کې ولیکئ. په یادو یې زده کړئ او په خپل ژوندانه کې یې په مناسب ځای کې عملي کړئ.
- ښوونکی دې دا پورتنۍ ویناوې په ښه توګه زده کوونکو ته څرګندې کړي.

# ابن سینا

ابن سینا د عبدالله زوی په ( ۳۷۰ هـ ق ) کال زیږیدلی او د بلخ اصلي اوسېدونکی و. په نړۍ کې یو ستر او مشهور طبیب او عالم تیر شوی دی. دغه ستر شخصیت شل کلن و، چې د خپل وخت په دوره کې د یو پېژندل شوي عالم په توګه یادېده. دغه پوه د طبابت، فلسفې او د نجوم په علومو کې په بشپړه توګه پوهېده او په دولس کلنۍ کې یې دري ژبه او ادبیات زده کړل. سر بېره پر دې په شعر او ادب کې هم مشهور و.

دغه پوه د طب په برخه کې د خپل وس او توان په اندازه ډېر خدمتونه کړي دي. د طب په هکله یې شپاړس کتابونه لیکلي دي چې مشهور اثر یې د (القانون في الطب) په نوم یادېږي.

له دغه کتاب څخه له شپږو سوو کلونو څخه زیات د زده کړې او تدریس کتاب په توګه استفاده کېده.

له دغه کتاب څخه اوس هم څه ناڅه په ځینو ځایونو کې ګټه اخیستل کېږي. دا کتاب د اوسني عصري طب بنسټ ایښودونکی دی.

ابـن سـینا د فلـسفې او عقایـدو پـه هکلـه ۶۸ کتابونـه لیکلـي دي. همدارنګه یـوولس کتابونـه یـې د نجـوم او ساینسي علومـو پـه بـاره کې دي او څلور کتابونه یې د شعر او شاعرۍ منظوم اثرونه دي.

---

پوښتنې:

۱. د لوستل شوي متن اساسي مفهوم څه شی دی؟

الف: ابن سینا په بلخ کې زیږېدلی و.

ب: ابن سینا شاعر و.

ج: ابن سینا د طب، فلسفې او نجوم یو ستر او مشهور عالم و.

ګرانو زده کوونکو!

له چوکاټ څخه د کلمو سم شکل انتخاب او د جملو په تشو ځایونو کې یې ولیکئ.

| | | |
|---|---|---|
| مشور | مشهور | منشور |

| | | |
|---|---|---|
| طپ | طب | تب |

الف: ابن سینا د نړۍ................... عالم و.

ب: هغه د ..................... په هکله شپاړس کتابونه لیکلي دي.

زده کوونکي دې لاندې بې ترتیبه جمله په ترتیب سره ولیکي.

۱- په بشپړه توګه پو هېده د طبابت، فلسفې او د نجوم په علومو کې دغه پوه.

# کیسه

یو سوداګر خپل زوی د سوداګرۍ لپاره یو ځای ته ولېږه. په لومړي مزله کې پرېوې شلې ګیدړې پېښې شو. ډېر حېران او په فکر کې شو چې دا به څنګه روزي پیدا کوي او څنګه به ځان مړوي. په دې خیال کې و، چې ګوري یو زمری را پیدا شو، هوسۍ یې په خوله کې نیولې وه او د ګیدړې خواته راغی. سوداګر له وېرې څخه د یوې ډبرې شاته پټ کېناست.

ننداره یې کوله. زمري ګیدړې ته نږدې د هوسۍ په خوړلو پیل وکړ. چې موړ شو نوره یې پرېښوده او ولاړ.

ګېدړه د سینې په زور وښوېده. کله یې چې هوسۍ ته ځان ورساوه، په خوړلو یې پیل وکړ او ځان یې موړ کړ.

د سوداګر زوی چې دا حال ولید، تر پخوا یې زیاته د خدای ﷻ په روزۍ رسولو عقیده ټینګه شوه له ځان سره یې وویل:

څرګنده ده چې روزي رسوونکی خدای ﷻ دی او هېڅوک بې روزي نه پرېږدي، نو څه اړتیا ده چې زه د یوې مړۍ ډوډۍ لپاره دومره ستونزې ګالم. له لارې څخه بېرته را وګرځېد. پلار ته راغی دا کیسه یې ورته بیان کړه. پلار یې ورته وویل:

"د سترګو توره! د خدای ﷻ په روزۍ رسولو کې هېڅ شک نشته، خو غواړم چې ته د هغه زمري په څېر شې. چې نور یې ستا له لاسه وخوري، نه د هغې ګېدړې په څېر، چې د بل چا پاتې شونو ته کېني.

---

سپارښت:

- زده کوونکي دې نوموړې کیسه له یادو زده کړي او د کیسې مطلب دې په خو کرښو کې په خپلو کتابچو کې ولیکي

# لنــډۍ

که په سنګر کې شهــــید نه شـــوې
خدایږو لالیه بې ننګۍ ته دې ساتینــه

کـــــه تـــور اوربل مـــې مېـــراتېـږي
په وطن جنګ دی جانان نه منع کومــه

ټوټې ټوټــې پـــه تــــورو راشــــــې
د بې ننګۍ آواز دې رامه شــــه مینــه

تـــورې وهـــــــه بــــرى بــــه مومې
که برى نه وي ځوانان تل په تورو مرینه

سپارښت:

- ګرانو زده کوونکو! که چېرې نورې لنډۍ مو زده وي په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.
- ښوونکی دې د لنډیو په هکله زده کوونکو ته معلومات ورکړي او له هر یو څخه دې وغواړي، چې یوه یا دوه لنډۍ راوړي.

# کور، د ژوند لومړی چاپېریال

کور د انسان لومړی چاپیریال دی. هر څوک له خپل کور سره مینه لري. آن ځاروي او الوتونکي خپل تاټوبی پیژني او مینه ورسره لري. اس له خپل ټاټوبي سره د مینې له امله زیات نوم لري. سپی هم چې له خپل کور څخه هر څومره لرې لاړ شي او یا یوړل شي، بېرته هلته ځان را رسوي.

کور کوچنی او هېواد یو لوی ټاټوبي دی. کله، کله کور او هېواد په یوه مانا کارول کیږي. په هر کور کې یوه کورنۍ اوسیږي. کورنۍ له مور او پلار، خویندو او ورونو او کله نا کله له ترونو او ترینډو څخه جوړه شوی وي.

په کور کې د هر چا کار معلوم وي. مور د کور په پاکولو او د ماشومانو په روزلو بوخته وي. پلار له کور څخه بهر کار کوي او کورنۍ ته د ژوند وسایل چمتو کوي.

د انسان راتلونکي له کور څخه پیل کیږي . که ښه وروزل شي، ښه او بد ورته بیان شي، خپل او د نورو حقونه ورښوول شي، د کور مشرانو ته درناوی او پر کشرانو د زړه سوي او مهربانۍ درس ورکړ شي او په خپل ورځني ژوند ورته ربښتینولي او صداقت یې د کار بنسټ وګرځول شي، نو هله به یو بریالی او خوښ انسان ترې جوړ شي.

په همدې ډول د کور جوړښت او ودانۍ هم د هغې په اوسیدونکو باندې اغیز لري. کوټې مخ په لمر جوړې شي. هرې کوټې ته باید د لمر وړانګه ورسیږي. د کور په انګړ کې باید ګلان او میوه لرونکې نیالګي وکرل شي. د کور څا باید له ټټۍ څخه لږ تر لږه (۲۰) متره وړاندې وکنل شي. د کور پاکوالي ته باید زیات پام وشي، ځکه د کال په ځینو فصلونو زیاتره ناروغۍ له ککړ چاپیریال څخه را پیدا کیږي.

په حدیث شریف کې راغلي دي: (نظافت د ایمان یوه برخه ده.) نو که غواړو چې په ژوند کې روغ، رمټ او خوشحال ژوند وکړو لازمه ده چې دکور د پاکوالي لپاره دغه لاندې ټکي په پام کې ولرو:

۱- د کوټو کړکۍ باید هره ورځ د څو شیبو لپاره خلاصې شي چې پاکه او تازه هوا او لمر خونو ته ورننوځي.
۲- د کور شاوخوا باید پاکه او ستره وساتل شي.
۳- د ځینو میوو له خوړلو څخه وروسته هغه توکي او پوستکي چې زموږ له خوړلو څخه پاتې کیږي د کور په هره خواکې ونه غورځوو ځکه دا عمل د ناروغیو د لیږدېدو سبب ګرځي.
۴- د کور د دیوالونو سوري باید بند شي ترڅو حشرې او خزندې زموږ کور ته لاره پیدا نه کړي.
۵- د کو رکوچنیان باید عادت شي چې خپله بیت الخلا ته لاړ شي.
۶- کورني مرغان او څاروي باید د کورنۍ د غړو د اوسېدلو له ځای څخه لیرې وساتل شي.

۷- د اغوستلو کالي، کمپلې، بړستنې، روجايي ګانې، توشکې، د کور فرش باید پاک وساتل شي او په هره اوونۍ کې دې کم تر کمه دوه ځلې د لمر تودوخې ته واچول شي.

**پوښتنې:**

۱ـ د پورته متن اساسي مفهوم څه شی دی؟

الف ـ کوټوته باید لمر ورکړل شي.

ب ـ د کور پاکوالی او خوشحاله فضا زموږ صحت ته ګټه لري.

ج ـ د دیوالو سوري باید بند شي چې حشرې او خزندګان کورته لاره پیدا نه کړي.

ګرانو زده کوونکو! د لاندینیو جملو خالي ځایونه دا چوکاټ په مناسبو کلمو سره ډک کړئ.

| | | |
|---|---|---|
| پاک | روغتیا | پاملرنه |

۱- موږ ته ښایي چې دځان او دکور دغړو دذهني او بدني ........... لپاره ډېره ............ وکړو.

۲- داغوستلو کالي، کمپلې، بړستنې، روجايي ګانې، توشکې دکور فرش باید ............... وساتل شي.

# ښه ټوکران

افغانستان ډول، ډول اعلی او ارزښتناکه ټوکران لري. دا ټوکران زياتره په هزاره جاتو، هرات، بدخشان او ځينو نورو سيمو کې د پسونو له وړيو څخه جوړېږي. کرک او بشرويه د وزې له پستو وړيو څخه او بې. دا پستې وړۍ د وېښتانو په بېخونو کې وي او پت ورته وايي.

د هرات کرک او بشرويه مشهور دي او په لوړه بيه خرڅېږي.

په بدخشان کې يو ډول بشرويه د هوسۍ له پت څخه جوړېږي، چې ډېره پسته وي.

د نساجيو د فابريکو ټوکران چې په کابل يا د کابل په شاوخوا کې دي، ډېر ډولونه او نور رنګونه لري.

وړۍ د افغانستان د سوداګرۍ عمده برخه ده او همدارنګه زموږ د هېواد په ځينو سيمو کې له وړېښمو او مالوچو نه خلک ډول، ډول ټوکران هم جوړوي.

**لغتونه:** **معناګانې:**

| | |
|---|---|
| ټوکر | ټوټې - رخت |
| بشرویه | یو ښایسته او قیمتي ټوکر دی |

**پوښتنې:**

۱. زموږ په هېواد کې خلک له کومو شیانو څخه ټوکران جوړوي؟
۲. د خپل هېواد د مشهورو ټوکرانو نومونه واخلئ؟
۳. په هېواد کې د ټوکرانود اوبدلو مخینه او د هغې د پرمختیا په هکله یو څو کرښې ولیکئ.

ښاغلی ښوونکی دې پورتنۍ جمله په توره دړه باندې ولیکي. بیا دې زده کوونکو ته لارښوونه وکړي، چې جمله په خپلو منځو کې تر خبرو لاندې ونیسي.

# پلار ته لیک

مهربانه پلاره!

السلام علیکم ورحمت الله و برکاته

شکر الحمد لله زه ددې لیک تر لیکلو پورې روغ رمټ یم، ستاسې د ټولو روغتیا او خوښي لـه لوی خدای ﷻ څخه تل غواړم.

مهربانه پلاره! زموږ څلورنیم میاشتنۍ ازموینه په خیر سره تېره شوه. د خدای ﷻ په فضل او ستاسې د دعا په برکت زه په خپل ټولګي کې په لومړۍ درجه بریالی شوم. دا دی تاسو ته د دې لیک په وسیله زېری درکوم چې زما د ازموینې د نتیجې په اړه ډاډه اوسئ. ګرانې مور او د کورنۍ لویو او وړو ته زما سلامونه ورسوئ.

په درناوي

ستاسې منونکی زوی زرغون

---

سپارښتنه:

- ګرانو زده کوونکو! پورتنی لیک په خپلو کتابچو کې څو ځله ولیکئ.

یادونه: ښوونکی دې د زده کوونکو د لیک او املا کتابچې وګوري.

## د انشاء تمرین:

- تاسو هر یوخپل پلار، ورور، خپلوان یا ملګري ته یو لیک ولیکئ.

# کيسه

(۱)

په پخوا وختونو کې د کلات په يو کلي کې له يو کوچي څخه د روپو اميانۍ ورکه شوې وه. کوچی ډېر خپه و او نه پوهېده چې څه وکړي. يوه سړي ورته وويل: "شاه علم خان ته ورشه هغه به مرسته در سره وکړي."

کوچی شاه علم خان ته، چې د ټول کلات خان و، ورغی. سلام يې واچاوه او ويې ويل:

"شاه علم خانه! ستا په کلي کې مې روپۍ ورکې شوې او کور مې وران شو. ستا په هيله راغلی يم، چې مرسته راسره وکړې"

شاه علم خان ډېر خپه شو او له کوچي څخه يې پوښتنه وکړه، وروره شپه دې چېرې وه؟

کوچي وويل: "تر کلي د باندې مې له اوښانو څخه بارونه کښته کړل، په دښته کې ويده شوم."

شاه علم خان بيا پوښتنه ور څخه وکړه: "روپۍ دې څنګه ورکې شوې؟" کوچي ځواب ورکړ: "د شپې چې بيدېدم د روپو اميانۍ

مې لـه ملا څخه خلاصه کړه او تر سر لاندې مې کېښوده. سهار چې لـه خوبه را پاڅېدم او دوکانونو ته ولاړم ګورم چې امیانۍ مې په ملا پورې نشته. کله چې بېرته اوښانو ته ورغلم، هلته هم نه وه، نو وپوهېدم، چې چا اخیستې ده."

(۲)

شاه علم خان وویل: "پر چا دې ګومان راځي، چې امیانۍ به یې اخیستې وي؟"

کوچي ځواب ورکړ: "زه خپل غل نه پېژنم"

شاه علم خان وویل: "ګرانه! ته زموږ مېلمه یې، څو چې دې امیانۍ نه وي پیدا شوې هیله کوم چې لـه کلات څخه ولاړ نه شې."

کوچی د خان تر څنګ کښېناست او خواشیني یې لږه شوه.

په دې مجلس کې د خان مشر زوی هم حاضر و. کله چې دده پلار لـه کوچي سره خبرې کولې، میرویس ته ور په یاد شول، چې سهار وختي لالو یو شی تر پټو لاندې نیولی او د دښتې لـه خوا کلي تـه را روان و، نو دلالو کره ورغی او ورغږ یې کړ:

"لالو، يو وار را ووځه، څه کار در سره لرم."

لالو ځواب ور نه کړ. میرویس بیا ور وټکاوه او ورغږ یې کړ: "لالو یو وار راووځه یو څه کار درسره لرم." لالو ورغی او ویې ویل: "څه کار دې دی؟"

میرویس وویل: "سهار مې ولیدې، چې یوه امیانۍ دې تر پټو لاندې نیولې وه او ددښتې له خوا را روان وې."

لالو وویل: " زه خو څه غل نه یم، چې د چا مال مې غلا کړی وي."میرویس ورته وویل: " امیانۍ تا اخیستې ده او ما ولیدې، چې تر پټو لاندې دې نیولې وه." لالو په قهر سره وویل: "زه درته وایم، چې مانه ده اخیستې، ځه ولاړ شه، لار دې وهه!"

میرویس ځواب ورکړ: "زه ترهغه وخته پورې نه ځم، چې امیانۍ مې در څخه نه وي اخیستې. هغه کوچی زما د پلار سره ناست دی او بده ورځ کوي."

لالو نور هم په قهر شو او ویې ویل: "ځه لار دې وهه، تر ځان غټې خبرې مه کوه، چې خپه به دې کړم."

میرویس ځواب ور کړ: "زه پوهېږم، چې ته مانه شې خپه کولی. ژر شه امیانۍ راوړه، چې کوچي ته یې ورښکاره کړم. که د هغه وه نو وربه یې کړم."

لالو له میرویس سره په جنګ شو. د کلي هلکانو لوبې کولې. دوی چې د میرویس او لالو خبرې واورېدې، پرې راټول شول او میرویس ته یې وویل: "ته زموږ ملګری او پرموږ ډېر ګران یې. لالو خو پیسې موندلې دي، غلا کړي خو یې نه دي. ته څه مه وایه چې نورخلک خبر نه شي. تا ته به هم برخه پکې در کړو."

میرویس ځواب ورکړ: "زه هم وایم چې ده نه دي غلا کړي، موندلي یې دي، خو دا پیسې د یوه بېوزله کوچي دي. باید هغه ته خپل حق ور وسپارل شي."

یو هلک چې بهادر نومېده ویې ویل: "میرویسه وروره دا ډېرې روپۍ دي، ډېره برخه یې ستا ، لږه یې موږ ته راکړه."

میرویس وویل: "یو پښتون هېڅکله خپل مېلمه نه خواشینی کوي او نه د چا حق خوري. دا کوچی نن زموږ میلمه دی. هر څنګه چې کېږي باید ده ته خپل مال بېرته ور کړو."

بهادر ورته وویل: "ته چا دې ته اړ کړې چې کوچي ته پیسې ورورړې؟"

میرویس ځواب ورکړ: "زه خپلې عقیدې او پښتونولۍ دې ته اړ کړی یم، چې پیسې بېرته ورکړای شي. څو چې امیانۍ رانه وړئ ولاړ به نه شم. دا ښه کار نه دی، چې تاسې د یو بېوزله سړي پرمال سترګې پټې کړئ."

د میرویس، لالو او هلکانو ترمنځ جګړه و نښته. د کلي مشران او سپین ږیري ورباندې راټول شول. نږدې و، چې لویه شخړه ځنې جوړه شي. په دې وخت کې شاه علم خان خبر شو. ددې لپاره چې رښتیا شخړه ځنې جوړه نه شي، هلته ورغی. شاه علم خان خلکو ته وویل: "زه د حق پرخوایم نو ځکه په دې خبره کې د خپل زوی ملګرتیا کوم. میرویس رښتیا وایي، هغه کوچی زموږ کره ناست دی. باید چې روپۍ یې بېرته ور وسپارل شي."

د لالو مور چې د دوی خبرې واورېدې، په منډه کورته ننوته، امیانۍ یې راوایسته او د بام سر ته وخته او شاه علم خان ته یې ور

غږ کړ: "زموږ ګرانه مشره! دا ده امیانۍ در واخله او کوچي ته یې ور وسپاره!"

شاه علم خان امیانۍ واخیسته، کوچي ته یې ورکړه او ورته ویې ویل: "روپۍ دې وشمېره چې پوره دي که نه؟"

کوچي خپلې روپۍ وشمېرلې، پوره وې، نو ډېر خوشحاله شو. د شاه علم خان او میرویس له مرستې څخه یې خوښي وکړه او کور ودانی یې ورته وویله.

میرویس خان د قوم په منځ کې د پښتونولۍ او زړه ور توب نوم وګاټه. په پای کې د خپل ولس لوی مشر شو او خپل هېواد یې له دښمنانو څخه خلاص کړ. ځکه اوس د میرویس نیکه په نامه یاد یږي.

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| خواشيني | خپګان |
| مرسته | کومک |
| هيله | غوښتنه |
| اميانۍ | د پيسو هغه کڅوړه چې ملا پورې تړل کېږي. |
| بهادر | زړه ور |
| مونډلې | پيدا کړې |
| شخړه | جنګ |
| وګاټه | لاس ته راوړ |

❖ ګرانو زده کوونکو! تاسو په خپله يو زده کوونکی وټاکئ، چې د شاه علم خان خبرې وکړي.

❖ له دې کيسې څخه يوه ډرامه جوړه کړئ، چې پکې د کوچي، شاه علم خان، ميرويس، لالو او بهادر عمل تمثيل شي.

## دانشاء تمرين:

○ زده کوونکي دې د دې کيسې يوه يوه برخه په خپله ژبه ووايي.

○ زده کوونکي دې پورتني لغتونه په خپلو کتابچو کې وليکي او په جملو کې دې وکاروي.

# د غوږ عمومي ناروغي

د غوږ خوږ:

دا ښکاره خبره ده چې د غوږونو خوږ یوه عامه ناروغي ده. انسان په ژوند کې ځینې وخت د غوږ په خوږ اخته کېږي. د غوږونو د خوږ ناروغي ډېر عوامل او سببونه لري چې دادی د ځومهمو ټکو یادونه یې په لاندې ډول ښکاره کېږي.

١. که یو انسان د ژمي په موسم کې اوږده موده له کور څخه بهر کوم کار وکړي، نو کله نا کله د غوږونو خوږ ورته پیدا کیږي.

٢. د والګي (ریزش) یاد (انفلونزا) د ناروغۍ په اخته کېدو کې هم غوږ زیانمن کېدای شي.

٣. که چېرې مور د اوداسه په وخت او یا د مخ اولاس مینځلو په وخت کې پوزه په زوره سڼ کړو، نو امکان لري چې په غوږونو کې مو خوږ پېښ شي.

٤. ځینې وخت د غوږونو خوږ له ډېرو لمبلو او ځان مینځلو څخه پیدا کېږي. د لمبلو او د ځان مینځلو په وخت کې باید په خپلو

غوړونو کې مالوچ کېږدو. ترڅو د غوږونو په خوږ او ناروغۍ اخته نه شو.

۵. ځینې وخت د غوږ په ټپې کېدو خوږ پیدا کېدای شي. همداراز که چېرې د غوږونو په منځ کې خیرې کلک شي نو هم خوږ ترې پیدا کېږي.

۶. ډېر داسې خلک شته چې په خپلو غوږونو کې د سلایي یا د اورلګیت د پلتو د وهلو عادت لري. په دې عمل په غوږ ونو کې د ټپې کېدو او بیا د پړسوب یا سوزېدو خطر پیدا کېږي. ددغه کار له امله غوږونه، نه یوازې خوږېږي، بلکې د دې سوزېدلو خوږ او ستونزه د سړي مغزو ته هم رسېږي.

۷. که چېرې په غوږونو کې یو ډول زهرجنه ماده پیداشي غوږونه خوږېږي، نو موږ ته لازمه ده چې د غوږونو په روغتیا ساتلو کې ډېره پاملرنه وکړو. او خپل غوږونه پاک او ستره وساتو د یخنۍ په وخت کې خپل غوږونه ګرم وساتو. تر څو موږ د غوږونو په درد او ناروغۍ اخته نه شو.

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| ټپي | زخمي کېدل |
| اخته | مبتلا |

---

**پوښتنې:**

۱- انسان د څه شي له کبله د غوږونو په درد اخته کېږي؟

۲- مونږ ولې په ژمي کې خپل غوږونه پټ او تاوده ساتو؟

۳- د غوږونو د روغ او رمټ ساتلو لپاره څه باید وکړو؟

**د انشاء تمرین:**

- له پورته لوست څخه مو چې څه زده کړي دي په خپلو کتابچو کې يې ولیکئ.
- که غواړو چې غوږونه مو روغ او سالم وي کوم ټکي په پام کې ونیسو؟ هغه ټکي او لارښوونې په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# تـوكــه

توره بلا ده کډې درباروئ.

یوه هلک په دښته کې یوه شمشتۍ (کیشپ) ومونـد، نـو خپـل پـلار ته یې راوړ او ورته ویې ویل: "پلاره! دا څه شی دی؟

پلار یې چې ورته وکتل، ویې ویل:

"زویه! ته غنم ور واچوه، که غنم یې وخوړل، نو پوه شه چې کوتره ده او که غنم یې ونه خوړل، نو کډې درباره وئ. چې توره بلا ده."

---

سپارښت:

- د پورتنۍ توکې په څېر نورې توکې خپلو ټولګیوالو ته ووایئ.

## متلونه

۱- بې زحمته راحت نشته.

۲- له لوږې مړ شه، د منت خواړه مه خوره!

۳- مه کوه په چا، چې وبه شي په تا.

۴- دروغجن دې دروغ وایي، عاقل دې قیاس کوي.

---

سپارښتنه:

- پورتني متلونه یاد کړئ.

# سړيتوب

د طوطيـــــانو له وينا دا معــــلومېږي

چې خبرو باندي څوک نه ســـــړی کېږي

سړی نه دی چې يې کار د ســـړي نه وي

په خبرو که هر څــومره ښـــه پوهـــېږي

(استاد الفت)

---

لغتونه: معناګانې:

وينا خبرې

ګرانو زده کوونکو!

- ❖ پورتنی شعر په ښه خط په خپلو کتابچو کې وليکئ.
- ❖ ددې لوست مهم لغتونه په کتابچو کې وليکئ او په مناسبو جملو کې يې وکاروئ.
- ❖ د ژبې د اهميت په هکله يو څو کرښې وليکئ.

دانشا تمرين:

- ▪ د پورته شعر مطلب په څو کرښو په خپلو کتابچو کې وليکئ.

# د مور خدمت

یو ځوان هلک د حضرت محمد ﷺ حضور ته ورغی او داسې یې وویل:

"په کور کې یوه زړه مور لرم، چې ډېره کمزورې ده. له یو ځای څخه بل ځای ته تلای نه شي. کله که وغواړي چې کوم ځای ته ولاړه شي زه یې په غېږ کې اخلم او هلته یې وړم. زه ورته خواړه تیاروم او بیا یې هغې ته په خولې کې ورکوم. مور مې چې هر څه وغواړي ورته راوړم یې او هر ډول مرستې ته چې اړتیا ولري، ورسره کوم یې او هڅه کوم. چې خوشحاله یې وساتم."

حضرت محمد ﷺ د ځوان له دغه نېك عمل او ښه چلن څخه خوشحاله شو او داسې یې ورته وویل: "افرین په تا چې له مور سره دا ډول ښه چلن کوې. مګر هېڅکله نه شې کولای، چې د مور ټول حقونه دې پوره کړې! دا ځکه چې نهه میاشتې د هغې ګېډه ستا ځای و او کله چې دنیا ته راغلې او وزېږېدې نو خپلې شیدې یې درکولې ته یې په غېږ کې اخیستې."

"یوې او بلې خوا ته به یې ګرځولې تل به یې له تاسره مرسته کوله. پاک به یې ساتلې. غېږ او لمن یې ستا د استراحت او کرارۍ ځای و او په ډېره مهربانۍ به یې روزلې. مور په ډېرې خوښۍ شپه او ورځ ستا په روزلو کې ستړیاوې، ستونزې او کړاوونه ګالل او هیله

يې درلوده چې لوی شي او په ښه ډول ژوند وکړي. کـه څـه هم تـه لـه خپلې مور سره زياته مرسته کوې. بيا هم هېڅکله نـه شي کولی. چې د مور ټول حقونه لکه څنګه چې ښايي پوره ادا او پر ځای کړي."

---

ګرانو زده کوونکو!

دغه درس په ښکلي ليک په خپلو کتابچو کې وليکئ.

❖ ښوونکی دې د مور او پلار حقونه په روانه ژبه زده کوونکو ته بيان کړي او هم دې له زده کوونکو څخه وغواړي، چې د مور او پلار دحقونو په اړه خپل معلومات په پښتو ژبه بيان کړي.

پوښتنې:

۱- مور په مورولې ګرانه ده؟

۲- مورو چې لويان شو د خپلو ميندو لپاره څه بايد وکړو؟

# بې پروايي

يوې ښځې ماسختن د ډوډۍ له پخولو څخه وروسته د تناره ايرې راوېستلې، د باندې يې وغورځولې، د اور بڅري (سپرغۍ) له ايرو څخه د انګړ په منځ کې ولوېدل. دکور مېرمنې پروا ونه کړه. د اور بڅرو ته يې اهميت ور نه کړ. له ځانه سره يې داسې خيال وکړ، چې دا ډېر واړه بڅري دي مړه به شي.

په بې غمه زړه کوټې ته ننوته او ويده شوه. لږه شېبه وروسته سخت توپاني باد راوالوت. د انګړ په منځ کې يې د اور لوېدلي بڅري تازه کړل. د لرګيو انبار ته يې ورسول.

د اور بڅرو د لرګيو په انبارکې اور بل کړ، لږه لږه لمبه يې کوله. اخر ټول انبار اور واخيست. په څو شېبو کې ټول کور وسوځېد.

رښتيا ده. چې ډېر ځله د لږې بې پروايۍ له امله لوی، لوی افتونه او کړاوونه پيدا کېږي.

| لغتونه: | معناګانې: |
| --- | --- |
| بخري | سپرغۍ |
| انګړ | دحویلۍ منځ |

سپارښت:

- ښوونکی دې د پورتني درس پایله زده کوونکو ته ووایي.
- ښوونکی دې له زده کوونکو څخه وغواړي، چې د بې پروايۍ په اړه په ساده ژبه خبرې وکړي.
- که زده کوونکي د لوست په زده کړه کې بې پروايي وکړي، څه به ورپېښ شي؟

پوښتنې:

۱- بې پروايي څه زیان لري؟

۲- د پورته لوست مطلب په خپلو کتابچو کې ولیکئ.

# پاک خواړه

موږ شکر مسلمانان یو. الله ﷻ په قرآن کریم کې موږ ته امرکړی دی چې له ځمکې څخه حلال خواړه وخورئ. یعنې په ځمکه کې غنم، جوار، شولې او داسې نور شیان وکرئ او د خپلې برخې په اوبو یې اوبه کړئ.

باید په یاد ولرو، چې خپل کښت او کرونده د نورو خلکو په حق او برخه اوبه نه کړو، ځکه چې پیداوار یې موږ ته حرامېږي. په قرآن کریم کې موږ ته ویل شوي دي:

"حلال وخورئ او همدارنګه کله چې له کومې مزدورۍ یا کسب څخه اجوره یا مزدوري لاس ته راوړئ، خپل کار په صداقت، رښتینولۍ او اخلاص سرته رسوئ، چې مزدوري یې تاسو ته حلاله شي. په حلالو خوړو کې د دنیا او آخرت ګټې شته."

ددې لپاره چې تل روغ رمټ واوسو، نو موږ ته په کار دي چې خواړه مو حلال او پاک وي. باید د ناپاکو شیانو له خوړلو څخه ځان وژغورو.

هر څوک غواړي چې روغ او جوړ وي، خو بیا هم ځینې کسان د خوړو حلالوالي او پاکوالي ته پاملرنه، نه کوي کله نا کله په جسمي او روحي ناروغیو اخته کېږي. پام مو وي چې حرام خواړه د روحي

ناروغيو سبب ګرځي. همدارنګه بايد هڅه وشي چې خواړه له ناپاکو شيانو څخه پټ وساتل شي.

دوړې او خاورې ځينې مکروبونه لري. دا مکروبونه له خواړو سره يو ځای کېږي او ناروغۍ منځ ته راوړي.

يادونه او ټينګار کېږي چې خواړه بايد له مچانو څخه پټ وساتل شي. مچان په ناپاکو شيانو کېني او د خپلو پښو له لارې د ناروغۍ مېکروبونه له ځان سره راوړي. کله چې مچان بيا په خوړو يا د خوړو په لوښي باندې کېني. مېکروبونه په خوړو او لوښو باندې پرېږدي. هغه بيا د ناروغيو د پيدا کېدو سبب ګرځي. بايد هڅه وشي چې د پخلي وړ خواړه تر پخولو د مخه ښه پرېمينځل شي. د پخولو په وخت کې بايد زيار وويستل شي چې خواړه ښه پاخه شي.

بايد خواړه په هوا لرونکي ځای کې کېښودل شي، تر څو خراب نه شي او هغه ټوټه يا لوښی چې خواړه پرې پټوئ بايد پاک وساتل شي.

کوم خواړه چې اومه خوړل کېږي، مخکې له خوړلو څخه بايد په پاکو اوبو او ياد پټاسو په اوبو او يا مالګينو اوبو پرېمينځل شي، چې ښه پاک شي.

| لغتونه: | معناګانې: |
| --- | --- |
| نظافت | پاکوالی |
| ژغورل | ساتل |
| اومه | خام |
| زيار | زحمت |

ګرانو زده کوونکو!

❖ پورتنی لوست څو ځلې د کتاب له مخې وواياست او بيا يې په خپلو کتابچو کې وليکئ.

پوښتنه:

١. پاک خواړه څه ګټې لري؟

❖ زده کوونکي دې د پاکو خواړو په هکله څو کرښې وليکي.

# ښه زده کوونکی

ښه زده کوونکی پوه او هوښیار وي

خواریکښه په خپل کار وي

ښوونځي ته ځي په مینه

په درسونو کې بېدار وي

خپلو ملګرو سره ښه کړي

له بدیو نه بېزار وي

معلمان ورنه راضي وي

نېک عمله نېک کردار وي

تل قانون ته احترام کړي

پابندي یې تل شعار وي

پلار او مور ته اطاعت کا

د فامیل نه خبردار وي

کورنۍ په اقتصاد کې

کلک ملاتړ او مددګار وي

په کشـــــرانو رحـــــم کانــدي

مهربانـــــــه لکـــه پــــــلار وي

د مشـــــــــرانو درنـــــاوی کـــا

د لــــــويـــانو خدمتـــــګار وي

هـــــم پـه کلــي او محـــــل کې

تل د ښو خلکـــــو همـــــکار وي

تـــل وردانګـي رضـــا کـــار وي

ټولنـيز کـــار تــــه تيـــــار وي

ټولنيــزې ګـــټې غـــــــواړي

مـخــــالف د اســــــتـــثمار وي

استثمـــــــــار نــه کــوي کـرکـه

تــل دښــــمن د اســـــتـثمار وي

د ټژنـــــــد زړه تـــــه منـــلی

هـــر هغـــه چې دا يـــې لار وي

(اروانباد محمد عثمان نژند)

**پوښتنې:**

۱- ښه زده کوونکي کوم صفتونه لري؟

۲- د ښه زده کوونکي په هکله څوک خبرې کولی شي؟

**دانشاء تمرین:**

- دښه زده کوونکي په هکله یوه لنډه مقاله ولیکئ.

---

# متلونه

**۱- هر چاته خپل وطن کشمیر دی.**

**۲- خپل کورساته، ګاونډی غل مه نیسه!**

**۳- د ورغوي تناکه مرغلره ده.**

**۴- خپله ژبه هم کلا ده هم بلا ده.**

**۵- مه کوه په چا چې وبه شي په تا.**

**۶- مار ته په لستوڼي کې ځای مه ورکوه!**

**۷- له یو لاس نه ټک نه خېژي.**

**۸- که غر لوړ دی په سر لار لري.**

**۹- کوږ بار تر منزله نه رسېږي.**

---

**سپارښت:**

- زده کوونکي دې وار په وار یو یو متل معنا کړي او ښوونکی دې ورسره مرسته وکړي.
- که چېرې ستاسو نور متلونه زده وي په خپلو کتابچو کې یې ولیکئ.
- ښوونکی دې د پورته متلونو د کارونې ځایونه زده کوونکو ته ووایي.

# زمرک او غږ

یوه ورځ زمرک د سیل لپاره دښتې ته ووت. یوه غره ته ورغی چې ډېرې ګڼې ونې یې درلودې. هلته زمرک لوبې کولې. ناڅاپه یې له مخې څخه یوه مرغۍ والوته. زمرک شور او هاها وکړه. هر غږ چې زمرک له خولې څخه را ایسته کټ مټ هماسې غږ به یې اورېده.

هېڅکله یې داسې پېښه نه وه لیدلې. ډېر حیران شو او ګومان یې وکړ چې په ځنګله کې د ده کوم همزولی دی، چې دده د اواز پېښې کوي.

زمرک وویل: څوک یې؟

اواز یې واورېد ، چې څوک یې؟ زمرک په غوسه شو او په ډېر لوړ اواز یې وویل: "ته ډېر بې عقل یې." همغه شېبه یې دخپل غږ انګازه پر ختې واورېده."ته ډېر بې عقل یې."

د زمرک غوسه یوه په دوه شوه او په سختو ویناوو یې پیل وکړ. یوه شو، هر څه چې وایې ټکي په ټکي بېرته ورګرځي. نا چاره شو په لټولو یې پیل وکړ، چې ګوندې غږ کوونکی به پیدا کړي. خپل غچ

به ځنې واخلي. کله چې يې هغه پيدا نه کړ، نو په ډک زړه کور ته راغی، پلار ته يې وويل:

"بابا جانه! يو هلک نن په غره کې زما د اواز پېښنې کولې، ستغې، سپورې مې ورته وکړې. هغه هم ستغې سپورې راته وکړې، ومې لټاوه چې سزا ورته ورکړم، پيدا مې نه کړ."

پلار يې وويل: "د زړه سره! هر څه چې دې اورېدلي دي هغه ستا د آواز غبرګون دی." بيا يې دا بيت ورته ووايه:

دا جهان په شان د غره دی زموږ فعل دی آواز

چې څه وايو هغه اورو هغه دم په هغـــــــه راز

لغتونه: معناګانې:

| | |
|---|---|
| ستغې | سختې وینا ګانې، ښکنځلې |
| غبرګون | بېرته ګرځېدل |

سپارښتنې:

- ګرانو زده کوونکو! پورتنی بیت په خپلو کتابچو کې په ښه لیک ولیکئ.
- ښوونکی دې د درس مطلب او موخه د زده کوونکو په ژبه هغوی ته بیان کړي.

پوښتنې:

١. زمرک دسیل لپاره چېرې تللی و؟
٢. زمرک د کومې پېښې څخه حیران شو؟
٣. ستاسو په فکر زمرک به د څو کالو و؟

دانشاء تمرین:

- پورته بیت په نثر واړوئ.

# خپل زوی ته د لقمان حکیم نصیحتونه

- له نېک او هوښیار سړي سره مصلحت کوه.
- استاذ تر پلار ستر وبوله.
- له بې عقلو او نا پوهو خلکو څخه تښته.
- یو ځل ویل شوې خبره دویم ځل مه تکراروه.
- د لمر ختو په وخت کې مه ویده کېږه.
- د ګټې او تاوان لپاره خپل عزت له لاسه مه ورکوه.
- د خلکو د خبرو په منځ کې مه ورلوېږه.
- مېړانه د ځان عادت وګرځوه.
- د بل کور ته چې ورځې سترګې، ژبه او لاسونه په واک کې لره.

| لغتونه: | معناګانې: |
|---|---|
| ستر | لوی |
| عزت | پت |
| مېړانه | توره، مېړتوب |
| واک | اختیار |

❖ زده کوونکي دې ددې درس مفهوم په ساده ژبه بیان کړي.

# ښـــوونکی

ته یـــې د پوهـــــې ډیــوه

تـــا پـتــنګان روزلــــي

د دې چـــــــمن لپاره

تا ســـره ګـــــلان روزلي

ته پـه هېواد مین یـــې

چې دې ځوانــــان روزلـي

تا د تاریـخ ښپــو کـــې

لـــــوی انســـانان روزلي

د معـــــــرفت ډیـــوه یې

د عدالـــــت ډیــوه یـــې

چـــې نوی نســـل روزې

د صــــداقت ډیــــوه یې

ته سوځېـدونکې شـــمعه

ته ویلېـــدونکې شـــمعه

دنیـا پـــه تـــا روښـــانه

ته روزېدونـــکې شـــمعه

ســـتا له ښـــوونې نه ځـــار

لـــه پېرزوینې نه ځـــار

چې یې رڼـــا خـپره کـــړه

هــغــې ځېړنې نـــه ځـــار

(. . .)

---

**پوښتنې:**

۱- ددغه شعر له مخې دې زده کوونکي د ښوونکي په شخصیت باندې خبرې وکړي.

۲- په ټولنه کې ښوونکی څه ارزښت لري؟

۳- نننی پر مختګونه د چا د کړاوونو د برکت پایله ده؟

**د انشاء تمرین:**

- ګرانو زده کوونکو! د ښوونکي په هکله یوه لنډه مقاله ولیکئ.

د نشـه یي توکو پرضد مبارزې وزارت

ګرانو ځوانانو !

له نیشو سره مرګوني مرضونه ملګري دي، لکه : ایډز، زیړی او داسې نور.

هر ډول نیشه یي توکي روغتیا ته ضرر رسوي، ښه فکر وکړئ او ترې ډډه وکړئ.

د کوکنارو د کر کمښت به د اقتصادي پرمختیا او ودې د پروګرامونو په چټکتیا کې مرسته وکړي.